د افغانستان اکثریت گوند
حزب اکثریت افغانستان

# د دولتونو او ملي سیاسي بنسټونو په کمزوري کولو کې د غیر دولتي سازمانونو (NGOs)رول

چمتوکوونکې: د گوندي روزنې کمېټه
۲۵ میزان ۱۴۰۵

د پیل خبرې ........................... ۳
تاریخي شالید ........................... ۶
د مغلو امپراتورۍ د سلطې او کنټرول اوزار........................... ۶
د بریتانوي هند د ټولنیزې سلطې او کنټرول اوزار........................... ۸
د محمد ظاهرشاه واکمني او بین المللي غیر دولتی سازمانونو سره چلند ........................... ۱۰
په اوسنۍ بڼه د غیر دولتي سازمانونو د ایجاد پس‌منظر ........................... ۱۲
د شوروي خلاف د جهاد او کډوالۍ په کلونو کې د غیر دولتي سازمانونو رول........................... ۱۶
په تېر اسلامي جمهوري نظام کې د غیر دولتي سازمانونو رول ........................... ۱۹
لومړی، د تکنوکراسۍ تر عنوان لاندې په دولتي موقفونو کې.../ ........................... ۱۹
دویم، عامه اړیکې او ټولنېزې رسنۍ........................... ۲۱
درېیم، د لوژستیکي قراردادونو د ورکړې په وسیله د محلي وړو او لویو زورواکانو حمایه ........................... ۲۲
څلورم، غیر وسله والو مذهبي افراطي ډلو او سازمانونو ته د پروژو ورکول ........................... ۲۳
پنځم، د پرانیستې او مدني ټولنې ترعنوان لاندې د موازي حکومتي نهادونو.../ ........................... ۲۴
د: د اسلامي جمهورت تر سقوط وروسته، د انجوګانو او انجویي پروژو نوې نقشه........................... ۲۶
لومړی، د طالبانو له حاکمیته راټوکېدلې انجوګانې ........................... ۲۷
دویم، د جمهوریت پرمهال جوړې شوې، خو په طالباني محیط کې ښکېلې انجوګانې ........................... ۲۸
نتیجه‌ګیري؛ د انجوګانو تاریخي میراث او زده شوي درسونه ........................... ۲۹
الف، ټولنیز او فرهنګي میراث او زده شوي درسونه ........................... ۲۹
ب، فکري میراث او زده شوي درسونه ........................... ۳۱
ب: اقتصادي میراث او زده شوي درسونه ........................... ۳۲
ج: د انجوګانو سیاسي میراث او زده شوي درسونه ........................... ۳۲
راتلونکی لیدلوری ........................... ۳۵
الف: د فکري او سیاسي انسجام په موخه د استعماري ادبیاتو څنډنه.../ ........................... ۳۶
ب: د سیاسي اقتدار د نظم په موخه د ملي او خپلواکو سیاسي ګوندونو ایجاد او ملاتړ ........................... ۳۷

# د دولتونو او ملي سياسي بنسټونو په کمزوري کولو او په کاذبې شخصيت جوړونه کې د غير دولتي سازمانونو (NGOs) رول

د لوی او بخښونکي خدای جَلَّ جَلَالُهُ په نامه

# د پیل خبرې:

د افغانستان د پنځو لسیزو بې‌ثباتیو او ناورین په اړه اکثره سیاسي تحلیلونه تر ډېره په ظاهري او داخلي عواملو تمرکز لري. په نړیوالو عواملو کې هم تر ډېره مستقیمو استخباراتي، پوځي او ډیپلوماتیکو مداخلو او د زبرځواکونو لخوا د معلومو سیاسي ډلو ملاتړ ته گوته نیول کېږي. دا ټول زموږ په هېواد کې د بحران رامنځته کوونکي عوامل دي چې څېړل او په اړه یې د ولس خبرول په خپل ځای مناسب او ارزښتمن کار دی. خو دا چې د پردیو لخوا تمویل شوي «غیر دولتي سازمانونه یا انجوگانې» څنگه د دغو بحرانونو او بې‌ثباتیو له دوام سره د مهمو لوبغاړو په توگه مرسته کوي؟ څنگه د تاریخ په مختلفو دورو کې د استعماري اجنډا پر محور انجویي فرهنگ خپلې بڼې ته تغییر ورکوي؟ څنگه په تدریجي او نامریي بڼه زموږ دولتي، اقتصادي، ټولنیزه، فکري او فرهنگي اډانه تضعیف او مهندسي کوي؟ او په نهایت کې د روان ۵۰ کلن ناورین په رامنځته کولو، پراخولو او د خپلواک او مترقي دولت او گوندونو په مخنیوي کې څنگه رول لري؟ دې او داسې نورو ورته پوښتنو ته نه یوازې چا ډېر پام ندی کړی، بلکې په دوامداره توگه دغې پدیدې [NGOs] د بشري مرستو او خواخوږۍ تر نامه لاندې، مصؤنیت پیدا کړی دی.

په تاریخي لحاظ کله چې د افغانستان په څیر په لږ پرمختللو هېوادونو کې زبرځواکونه او نړیوال ایتلافي سازمانونه د خپلو استعماري یا په بله ژبه هژموني برنامو د تحقق په موخه مستقیمه او غیر مستقیمه مداخله کوي، نو په لومړي گام کې خپل غیر دولتي سازمانونه ظاهرا د بشري او خیریه کارونو، د مهارتونو د لوړولو او مدني نهادونو سره د مرستې په نوم ایجادوي او ورلېږي. پدې ډول

په نښه شوي هېواد کې په ټولنیزې او فکري انجنیرۍ لاس پورې کوي او د عامه افکارو کنټرول او د روایت جوړولو صلاحیت او ابتکار د ملي دولتي نهادونو او ملي سازمانونو څخه اخلي او د هغې ټولنې افکارو ته د خپلو استعماري موخو په طرف لوری ورکوي.

که څه هم د مداخلو دغه بڼه تر ډېره بریده پټه نده، خو که بیا هم هر چا هڅه کړې په اړه یې څه وواییي یا ولیکي د همدغه استعماري ځواکونو اړوندو تبلیغاتي بنسټونو، سلېبرېټي څېرو، مدني جوړښتونو او رسنیو لخوا په منظم ډول د توطئې تیوري په نوم رد شوي دي او برعکس دغه سازمانونه په یادو ټولنو کې د بېوزلو د لاسنیوي، د بیان د ازادۍ او بشري حقونو او د قانون د حاکمیت د بیا احیا یوازینۍ مراجع بولي او له انجوګانو سره مخالفت له بېوزلو وګړیو سره د مرستو د مخالفت او پرېکون په معنا تعبیرېږي.

د دغو تمویل شویو تبلیغاتي بنسټونو او رسنیو فکري اساس پدې ولاړ دی چې اطلاعات او معلومات یې باید انحصاري وي. کله چې دغو رسنیو ته په مستقل ډول د یوې پېښې په اړه خام توکي ورکول شي، نو ډېر کم پېښېږي چې دوی دې پوښښ ورکړي. دا ځکه چې دوی یوازې هغه پېښې او وقایع او ماجراوې تر پوښښ لاندې نیسي چې د تمویلونکیو دولتونو او سازمانونو له لویو سیاستونو سره همغږي وي او یا د دوی په انحصار کې وي.

زبرځواکونه چې څومره په اقتصادي او پوځي برخه کې پیاوړي دي، تر دې څو چنده په تبلیغاتي برخه کې وړاندې دي. دوی کولای شي د لږ پرمختللو هېوادونو لپاره د غیر دولتي سازمانونو تخریبي فعالیتونه او برنامې د اطلاعاتو په ازدحام کې کمرنګه او بابیزه وښیي. خو کله چې په ۲۰۱۰ کال کې ویکي لیکس په عراق او افغانستان کې د امریکایي پوځیانو او د دوی د متحدو ځواکونو د جنایتونو اړوند زرګونه اسناد خپارل کړل، دې پېښې وښوده چې په اوسني عصر کې د دولتونو دا قابلیت چې اسرار وساتلی شي، تر پوښتنې لاندې راغلی دی. همدارنګه پر غزې د اسرائیلو بې رحمانه بریدونه، عام وژنې او مظالم د همدغه ټولنیزو رسنیو په مټ د نړۍ ټولو خلکو ولیدل او له اخلاقي پلوه یې د غربي رسنیو د منافقت څېره ټولو ته څرګنده کړه او هغه پخوانی تبلیغاتي اغېز یې کمرنګه شو، چې تور یې سپین او سپین یې تورولی شوای.

سره لدې چې لویو قدرتونو ته پدې عصر کې د عامه افکارو مدیریت سخت شوی، په دودیزو رسنیو د خلکو باور تر ټولو ټیټې کچې ته رسیدلی دی. نړۍ، په تېره بیا نړیوال جنوب د بدلېدو په حال کې دی . نړیوال حاکم نظم عملاً شړېږي او څو قطبي نړۍ عملاً جوړه شوې ده او دې سره د منځني قدرت هېوادونه هم په سیمه‌ییزو سیاسي - اقتصادي معادلو کې پخپله ځان تعریفوي . په نړیوال جنوب کې د استعمارځنډنې او مقاومت د ادبیاتو د تولید یوه نوې څپه پیل شوې چې دغه ملتونه یې را ویښ کړي دي.

د دې بدلونونو په لړ کې غیر دولتي سازمانونه خپل منافقانه او استعماري نقش نشي پټولای. خو دا چې استعماري قدرتونه د ټکنالوژۍ انحصار په واک کې لري، غواړي د مصنوعي ځیرکتیا باټونه او الګوریتمونو کې په خپله ګټه بدلون راولي. مثلاً د ۲۰۲۶ کال په اګست کې یو شمېر نړیوالو مشهورو رسنیو لکه ګارډین او پولیټیکو افشا کړه، چې د اسراییلو حکومت په پټه داسې جعلي وېبپاڼې جوړې کړې دي چې عام لوستونکي او رېښتیني ټرافیک نلري، خو یوازې د مصنوعي ځیرکتیا الګوریتمونه او چټ‌باټونه تېرباسي ، تر څو د غزې د جنګ په اړه پوښتونکیو ته غلط او غیر واقعي معلومات ورکړي.

لدې ټولو سره سره ټولنیزو رسنیو او مصنوعي ځیرکتیا پدې عصر کې د عامه افکارو مدیریت هر چا ته سخت او دغه حوزه کې هم انحصار د نړیوال جنوب په ګټه د ماتېدو په حال کې دی.

د بدلون په دغه متحرک عصر کې ګڼ کتابونه، تحقیقي مقالې، اسناد، شواهد او خپله د استعماري هېوادونو د لومړۍ درجې سیاستوالو ګڼ اعترافات دا په ډاګه کوي چې نور د غیر دولتي سازمانونو له منفي نقش بربنډولو سره مخالفت د توطئیې تېوري په نوم نشي ردېدلای.

دغو ټولو عیني واقعیتونو او د هغو هر اړخیزو جوانبو ته په کتو ، د افغانستان اکثریت ګوند د (ګوندي روزنې کمیټې)غړیو په دې رساله کې هڅه کړې ده چې له تاریخي او سیاسي پلوه په سیمه او افغان‌ټولنه کې د غیر دولتي سازمانونو تخریبي او استعماري نقش ته یو ځغلنده کتنه ولري.

پدې لیکنه کې د دې پوښتنې د ځوابولو هڅه شوې ده چې انجوګانې او هغوی پورې تړلي جوړښتونه څنګه ظاهرا د ټولنیزو او بانفوذه اشخاصو په وجود کې د افغانستان د بومي، خپلواکو او

پایدارو سیاسي بهیرونو او گوندونو د ټکني کېدو، او د قوي دولت د کمزورۍ لامل شوي دي. او همدارنګه اوس موږ ته څه پکار دي؟

## تاریخي شالید:

د تاریخ په اوږدو کې لویو امپراتوریو د خپل قلمرو د ساتلو، پراخولو او د خپل نفوذ د تحکیم لپاره هڅه کوله چې تر اشغال لاندې ټولنو کې داسې متنفذ اشخاص مطرح او حمایه کړي چې دوی ترې وېره ونلري او وفاداري یې ورته ثابته شوې وي. له دې سره جوخت به یې په هماغه سېمو کې د عامه افکارو د مدیریت او فکري ـ ټولنیزې انجنیرۍ لپاره ځیني روحانیون او مذهبي بنسټونه او قشرونه حمایه کول. مذهبي تفرقو ته به یې لمن وهله او په دې توګه به یې ټولنه په خرافاتي او ټیټو بحثونو کې مصروفوله؛ ترڅو د دوی کنټرول او استثمار ورته اسانه پرېوځي.

هغه وخت په معاصره بڼه غیر دولتي سازمونه نه ول، خو استعماري قوتونو د ټولنې ځایي بنسټونه؛ لکه پیرخانه، مدرسه، جومات، خانان او نوابان په نښه کول، دوی ته به یې پیسې تزریقولې او بیا به یې په سېمه کې د خپلو سیالو ولسي بنسټونو پر وړاندې غښتلي کول. او د دغه هر یو بنسټ په استازیتوب به یې شخصیت جوړونه یا کرکټرایشن کاوه.

لومړۍ غواړو، په بېلابېلو تاریخي دورو کې د معاصرو غیر دولتي سازمانونو او شخصیت سازۍ ریښې د افغانستان او سیمې په تاریخ کې ولټوو او بیا نږدې تاریخ او اوسني وضعیت کې د استعمار په ګټه د غیر دولتي سازمانونو له لارې د شخصیت جوړونې او سیاسي اعتبار ورکونې پروسې او د هغوی شالید وپېژنو.

## د مغلو امپراتوري د سلطې او کنټرول اوزار

د هند په نیمه وچه کې د مغلو امپراتورۍ چې هغه مهال یې د اوسني افغانستان نیمایي او پښتونخوا سیمې هم تر واک لاندې وي، همدغه ډول سیاست درلود. مغلي سلطنت د افغانانو په خاوره کې ځان ته وفاداره لسګونه روحانیون لکه اخوند درویزه حمایه کول او خپل مخالف روحانیون لکه بایزید روښان یې پرې کمزورۍ کاوه. د اولسمې میلادي پېړۍ په نیمایي کې د

مغلو په خلاف د افغانانو په ځانګړي ډول د خوشحال خان خټک د مبارزې پر وړاندې هم لوی خنډ همدغه د استعمار تر مالي او سیاسي پوښښ لاندې روحانیون او ملکان ول چې تر اخره ورسره په جګړه بوخت و. خوشحال خان خټک ته تر هر څه لومړی د پښتنو قبایلو د فکر جوړول مهم و چې له پیرېو راهیسې د یرغلګرو امپراتوریو لخوا له فکري پلوه بې‌لارې شوي ول. هغه پوهېده چې د بایزید روښان مبارزه څنګه ناکامه شوه او یو ستر عامل یې د هغه پر وړاندې د مغلي دربار په ملاتړ د ملایانو راپورته کېدل بللي دي.

خوشحال خان خټک پداسې حال کې د افغان په ننګ د مبارزې غږ پورته کړ چې په ټوله پښتونخوا کې مغلي دربار ته د وفاداره پیرانو مفکوره خپره وه. یوه بېلګه د مخزن الاسلام په نوم د اخوند درویزه کتاب و چې د هغه د مبارزې پر وړاندې لوی خنډ و.

د مخزن په اړه خوشحال خان خټک فرمایي:

هر بیان یې ناموزون مجهول بې رنګه

خالي پاتې له دانشه له فرهنګه

ما وې دین د محمد دی ما منلی

بې قرآنه بل کتاب دی چا منلی؟

درویزه نه مجتهد دی نه امام دی

دی هم خام؛ تاسې هم خام؛ مخزن هم خام دی

د تاریخ په دې موده کې د ولسي مبارزو د یووالي او انسجام د مخنیوي لپاره، مغولو د افغان قومونو د مشرانو، ملکانو او خانانو د کنټرول او د ملي ولسي مبارزې د مورال کمزورولو لپاره بېلابېلې ستراتیژۍ وکارولې. هغوی پیسې، ډالۍ او د مغولو امپراتورۍ په چوکاټ کې د لوړپوړو منصبونو ورکړه او دغه‌راز په ټولنه کې قبایلي او مذهبي اختلافونه د وسیلو په توګه وکارول. حتا په‌دې لړ کې مغولو وکولای شول د همدې تاکتیک په مرسته د خوشحال خان خټک زوی، بهرام خان، د خپل پلار د مبارزې پر وړاندې ودروي.

دغه تاکتیکونه، چې موخه یې د افغانانو د خپلواک سیاسي هویت کمزوری کول او د افغانانو

په مالکیت پر سیاسي مبارزو بانديې د باور له‌منځه وړل وو، د غیر افغان تاریخ لیکونکو لکه لویس ډوپري لخوا یاد شوي، هغه لیکي: «افغانانو تل د بهرني تېریو په وړاندې مقاومت کړی خو اکثرا د هغو خپل منځي مخالفتونو قرباني شوي چې د بهرنیو امتیازاتو پواسطه ورته لمن وهل شوې.»

## د بریتانوي هند د ټولنیزې سلطې او کنټرول اوزار

کله چې هند د بریتانوي استعمار تر ولکې لاندې راغی، دوی په لا پرمختللي شکل سره د مغلو د سلطنت همدې پالیسي ته دوام ورکړ. انګریزانو به د افغان قبایلو د کنټرول او د لویو لارو د ساتلو لپاره مذهبي بنسټونه تمویلول او متنفذینو ته د رشوت د ورکړې او ملاتړ له لارې یې پدې سېمو خپله سلطه ساتله او په دې توګه یې د ځان پر وړاندې هر مقاومت لومړي سر کې د خپلو وفادارو روحانیونو په وسیله په نطفه کې خنثا کاوه.

د دغې ادعا د کره‌والي لپاره یوازې د هېواد د تاریخ له متنه د افغان - انګلیس د لومړنۍ جګړې مستندو پېښو ته اشاره کافي ده. تاریخ رابښيي چې د بهرنیانو د مالي باج په مټ په هېواد کې د نفوذ ترلاسه کول یو له تر ټولو تکرارېدونکې بېلګه ده. د مثال په ډول، د ۱۸۴۱ کال په ډسمبر کې، کله چې د بریتانوي استازي ویلیم مکناټن په مشرۍ پوځ په کابل کې مستقر وو، ځینې محلي خانان، ملکان، او قومي مشران ناڅاپه د پراخو پیسو په بدل کې شتمن شول. دوی به په کابل کې مېشتو بریتانوي پوځیانو لپاره لوژیستیکي او غذایي خدمات هم برابرول او له‌دې لارې شتمن کېدل.

که د برتانوي هند دورې تاریخي متونو ته سر ورښکاره کړو؛ نو په هغه دور کې باچا خان چې د بریتانوي امپراتورۍ په ضد د ازادۍ مبارزه کوله، په خپلو یادداښتونو کې د ملي مبارزې په کمزورې کولو او یرغلګرو سره د همکارۍ په اړه د روحانیونو او خرڅ شویو متنفذینو نقش په ډېر تفصیل بیان کړی دی. باچاخان لیکي: چې دوه ډلې پښتانه ملایان به په یو لوی میدان کې راټول شول او سقاط په مسئله به یې فقهي مناظره کوله، امنیت به یې انګریزي سرتېرو نیولی و، خو دغو ملایانو د استعمار خلاف غږ نه کاوه، خو حاضرو خلکو پخپلو منځونو کې د سقاط په مسئله د یو بل وینې څکلې.

دې ته ورته، جورج کنینګهم، چې د ۱۹۴۷-۱۹۴۸ کلونو په جریان کې د بریتانوي استعمار له خوا د خیبر پښتونخوا والي و، په خپلو یادداښتونو کې تفصیلي معلومات ورکړي چې څنګه یې په پښتونخوا کې ملایان، ځایي خانان، او ملکان استخدام او تطمیع کړل. هغه د بریتانوي سیاست او روایتونو د دفاع لپاره، په جوماتونو او کلیو کې د دوی د کارولو څرنګوالی په تفصیل بیان کړی.

جورج کننګهم زیاتوي: «تر اوسه پورې زما له هغه (د اسمار مولوي برکت الله) سره ترتیب داسې پاتې شوی چې هغه کال کې یو یا دوه ځله زما لیدو ته راځي. برکت الله راته وویل چې هغه د باجوړ او مومندو سیمو په مختلفو ځایونو کې د لسو یا دولسو ملایانو په واسطه ډېر څه ښایي وکولای شي. ما هغه ته زر روپۍ ورکړې»

د دې په دوام، کنینګهم دا هم لیکي چې څنګه یې د ملایانو، خانانو او ملکانو څخه کله د روس، کله د جرمنیانو، او کله هم د هند د کانګرس ګوند پر ضد د تبلیغاتو لپاره استفاده کوله. هغه وایي: «مولانا محمد شعیب د مردان ولسوالۍ دوره وکړه او ستیاګراها Satyagraha یې وغندله او د مولانا نامدارالله تبلیغاتي پاڼې یې د کانګرس په ضد ووېشلې». د دې په دوام زیاتوي: «ما قلي خان ته مشوره ورکړه چې بلشویک مخالفه پروپګنډه اوس لپاره لږه غلې کړي او د جرمني او ایټالیې په ضد پروپګنډه باندې زور واچوي.» دغه‌راز، کنینګهمن بل ځای کې وایي: «د سوات وزیراعظم اوس په مردان کې له اتلسو، او د پیر بابا په زیارت کې له دوو ملایانو څخه کار اخلي، هر یو ته د میاشتې دېرش روپۍ ورکوي.»

تردې هاخوا، کنینګهم د ملي او د ټینګ عزم لرونکي افرادو د جذب او تطمیع کولو په اړه پخپلې ناکامۍ هم اعتراف کوي او لیکي: «فقیر ایپي سره د شامي پیر غونډې سودا (معامله) نه کېږي، ځکه چې هغه نه یوازې زموږ لارې ته نه راځي، بلکې په هیڅ هم نه خرڅېږي. ما به کله څوک د دې سرکش ملا څخه خلاص کړي؟»

د جورج کنینګهم په اړه د خان عبدالولي خان د «**باچا خان او خدایي خدمتګار**» کتاب په لومړي ټوک کې هم ذکر شوي، چې پکې دا څرګنده شوې چې استعمار څنګه د مذهبي او قومي مشرانو له لارې د پښتنو ټولنه کنټرولوله او د دوی تر منځ یې اختلافات رامنځته کول.

له دې او ورته تاريخي متونو دا درکوو چې انګريزي ښکېلاک د ديني بنسټونو او ملايانو په استعمال کې دومره برتري درلوده چې د همدغه ديني بنسټونو په وسيله يې انګريزان مشروع حاکمان بلل خو لسګونه زره کيلومتره لرې؛ په مسکو کې تازه واک ته رسېدلو بلشويکانو څخه يې مسلمانان ډارول او يا يې په ايټاليا کې تازه واک ته رسېدلي د انګريزانو مخالف رژيم په خلاف تبليغات کول، په اصل کې د فاشيزم او بلشويکزيم نوم سره خلک لا اشنا نه ول. لدې دا اندازه لګېدلای شي چې خلکو د نشنليزم، کمونيزم، فاشيزم او بلشويک سياسي کلمات او ادبيات لومړی د ملايانو له خولې اورېدلي او ملايانو ته هم انګريزانو ور زده کړي ول.  باچاخان په څلونو ليکلي چې ملايانو به ويل انګريزان اهل کتاب کافران دي او سرکار سره مخالفت بغاوت دی. دا چې اوس هم زموږ په ځينو ديني مراکزو کې انګريزانو او امريکايانو ته اهل کتاب ويل کېږي معنا دوی کافر دي، خو دوی ښه کافران دي يعنې تعامل ورسره جواز لري، د دې وينا تاريخي سرچينه د کنينګهم په حواله د انګريز نه پاتې استعماري ادبيات دي. بل ټکی چې د پام وړ دی هغه دا چې په هغه دور کې چې تعريف شوي غيردولتي سازمانونه نه وو موجود؛ استعمار په کلاسيکه بڼه دا هرڅه ترسره کول. دوی ځايي ديني‌او قومي بنسټونو ته امکانات برابرول او په بدل کې يې د دوی په مټ ټولنه کې د فکري انجنيرۍ په وسيله خلک کنټرولول او د هر راز ملي بيدارۍ او استعمارضد تحرکات يې په نطفه کې خنثا کول. دغه تاکتيکونه او استعماري سناريوګانې بيا وروسته د افغانستان د سياسي خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو څخه وروسته هم دوام وکړ او خورا سيستماتيکه بڼه يې غوره کړه.

## د محمد ظاهرشاه واکمني او بين المللي غير دولتی سازمانونو سره چلند

د محمد ظاهر شاه په دوره کې که څه هم افغانستان ډېر فقير و، خو يو دوامداره ثبات يې درلود، هغه مهال موږ په ملي کچه غير دولتي سازمانونه د انجو په شکل کې چې د بهر نه مرستې ترلاسه کړي، نه لرل او غير دولتي سازمانونه په نړيواله کچه هم دومره زيات نه ول. په دې لړ کې د ملګرو ملتونو سازمان يا نورو نړيوالو سازمانونو په چوکاټ که کوم غير دولتي سازمان افغانستان ته د مشخص هدف، مرستې او يا پروژې د عملي کولو لپاره راته په مستقل ډول يې دا کار

نشوای کولای. هغه مهال د ملگرو ملتونو په چوکاټ کې دننه ځینو نړیوالو غیر دولتي سازمانونو لکه یونسیف، یونسکو او نړیوال سور صلیب په افغانستان کې ځیني پروژې او فعالیت درلود، خو مجبور ول چې د افغانستان له قوانینو سره سم د دولت تر بشپړ کنټرول لاندې فعالیت وکړي. مثلا هغه وخت د سره صلیب نړیوال سازمان مجبور و چې خپلې مرستې د افغاني سرې میاشتې تر بیرغ او لوگو او کنټرول لاندې د افغانستان وچکالۍ ځپلو سیمو ته ورسوي. هغوی په خپل سر د سروې او څیړنې په نوم کوم فعالیت نشوای کولای او مجبور و، یوازې د دولت له رسمي چینلونو معلومات ترلاسه کړي.

دغه راز یونیسف او یونسکو سازمانونو هم چې د ماشوم د روغتیا او تاریخي سیمو په برخه کې کومه مرسته کوله، مجبور ول، چې د افغانستان دولتي قانوني پروسیجرونه رعایت کړي . مثلا د شري، ملاریا، لشمانیا، چیچک او نورو دا ډول ساري ناروغیو سره د مقابلې لپاره ددغو سازمانونو سره اړیکې او مرستې مهمې وې. دوی به د افغانستان د روغتیا وزارت سره مرستې کولې او د هېواد د روغتیا وزارت به بیا د خپل تشخیص او لومړیتوب په اساس دا مرستې د خپل نښان او نوم لاندې د خپلې روغتیایي برخې مامورینو په واسطه وېشلې. دغو سازمانونو اجازه نه درلوده چې په مستقلانه ډول خلکو سره اړیکه کې شي او بیا د هغوی له منځه افراد په نښه او په لوړو معاشونو یې وگوماري او دې سره یې د ټولنې په منځ کې ورو ورو د اغېزناکو څېرو په نوم مطرح او خپل اغېز ته بستر آماده کړي. په یاده دوره کې حتا بهرنیو هېوادونو ته د لوړو زدکړو لپاره محصلین هم د ملي بودجې په پیسو هغو تحصیلي ځانگو ته لېږل کېدل چې اړتیا یې په هېواد کې وه. موږ بیا گورو چې د یادې دورې په وروستیو کلونو کې چې کله د تحصیلي بورسیو په ورکړه کې بهرنیو ادارو او موسساتو ته ځیني ازادۍ ورکول شوې، نتایج هماغه ول چې وروسته یې د هېواد سیاسي - فکري چاپیریال زښت ډېر اغېزمن کړ. په دې لړ کې شوروي اتحاد ته د داسې مسلکونو د زدکړې لپاره ځیني ځوانان ولېږل شول چې له هغه ځایه یو شمېر له فکري پلوه په افراطي بڼې اغېزمن راستانه شول. پرته لدې چې د خپلې ټولنې تاریخي، فرهنگي او ټولنیز وضعیت درک کړي، او سیمه‌ییز او نړیوال شرایط مطالعه کړي، دوی غوښتل چې په ډېرې قهرجنې او چټکې بڼې افغانټولنه بدله کړي. دې ته ورته، گڼ غربي موسساتو یو شمېر نور ځوانان د امریکا د فولبرایټ

او دې ته ورته ځیني نور د اروپايي هېوادونو بورسونو له لارې د تخنیکي او ساینسي څانګو په ځای د ټولنیزو علومو رشتو کې جذب کړل. د دغو غرب‌لوستیو ډېری برخه بیا د جهاد په کلونو کې په غرب کې د شوروي یرغل په پلمه د تنظیمي ډلو لخوا د روان جهاد د سرسخته لیبرال پلویانو په توګه مطرح شول. دوی سره له‌دې چې پخپل شخصي ژوند او فکر کې هیڅ اسلامي ارزښتونه نه پالل خو له دوی څخه د جهاد په کلونو کې د جهاد او مجاهدینو په پلوۍ د مقالو او راپورونو په لیکنو کې استفاده وشوه او پاتې نورو څخه یې د جهادي نصاب په جوړولو کې کار واخیستل شو. هماغه نصاب چې تر ننه د افغان ماشوم له ذهنه د ګولۍ، ټوپک، ټانګاو الوتکې نوم نه وځي.

## په اوسنۍ بڼه د غیر دولتي سازمانونو د ایجاد پس‌منظر

په اوسني عصر کې غیر دولتي موسسې/انجوګانې (Non-governmental organizations-NGOs) په سیستماتیکې او پرمختللې بڼې هماغه رول لوبوي چې پخوا به ځیني روحاني، مذهبي بنسټونو او متنفذینو د استعمار لپاره لوباوه.

تر ۱۹۴۵ کال پورې یعنې د ملګرو ملتونو د نړیوال سازمان تر ایجاد وړاندې د انجو له نوم سره نړۍ نااشنا وه. کله چې د ملګرو ملتونو سازمان جوړ شو، نړۍ د دویمې نړیوالې جګړې ویجاړۍ تر شا پرېښې وې، نو د راتلونکې سوله‌ییزې نړۍ او د نورو نړیوالو جګړو د مخنیوي په موخه دغه سازمان ته په ډېر خوشبینانه ډول منشور ولیکل شو. هغه مهال د یو شمېر لویو قدرتونو اړوند ځینو غیر دولتي سازمانونو د لابي په نتیجه کې د دغه منشور په ۷۰ او ۷۱ ماده کې داسې تمایل وښودل شو چې له مخې یې ځینو تخصصي مسایلو په اړه له غیردولتي سازمانونو سره د اطلاعاتو تبادله کېدلای شي، او دې سره یې هڅه وکړه چې دغو سازمانونو ته د نړیوال حکمي شخصیتونو په توګه مشروعیت ورکړي.

له هغې وروسته په نړیواله کچه ځیني تخصصي انجوګانې رامنځته شوې، چې د بشر د حقونو، حیواناتو حقونو، چاپیریال ساتنې او روغتیا په څېرځینې تخصصي برخو کې یې فعالیت درلود او تر یو ځایه یې په یادو ساحو کې یو څه مثبت فعالیتونه لرل.

خو دا د دوه قطبي نړیوال نظم د پیل کلونه و، یو خوا د شوروي اتحاد په مشرۍ د سوسیالیستي

هېوادونو ټلواله وه او بله خوا د لیبرال ډموکراسۍ په مشرۍ د امریکا متحد ایالتونه او لویدیځه اروپا راتلل وه. دا چې دواړه قطبونه په اټومي وسلو سمبال ول، او مخامخ جګړه د دواړو لوریو په تاوان وه، نو د دغه دوو قطبونو یا زبرځواکونو ترمنځ په اقتصادي، فرهنګي او پوځي برخه کې د رقابتونو ډګر په اکثریت سره همدا لږ پرمختللي هېوادونه ول.

د شوروي سیاست دا و، چې د سوسیالیستي او ملي ازادۍ غوښتونکیو قوتونو د ملاتړ او یا هم د ملي ازادي بښوونکي انقلابونو له لارې د غربي امپریالیزم لاس د لږ پرمختللیو هېوادونو له منابعو لنډ کړي، او بالاخره غربي هېوادونه دومره کمزوري کړي چې خپلو کارګرانو ته مناسب حقوق ورنشي کړای او دا به په غرب کې انقلابونو ته زمینه مساعده کړي. بل‌خوا د امریکا په مشرۍ پانګوال نظام او یا غربي بلاک هڅه کوله چې پخپلو پخوانیو مستعمرو خپل مستقیم واک یا لږ تر لږه هژمونیک واک وساتي. دغه‌راز غربي بلاک، د شوروي د نفوذ د مخنیوي پخاطر په لږو پرمختللیو هېوادونو کې ملي دولتونه، ملي‌ګرا عناصر، کیڼ اړخي او یا د شوروي متحد نظامونه کمزوري کول او هلته به یې د رنګه انقلابونو په مټ ځانونو ته وفاداره افراد واکمنول، ترڅو د لیبرال هژمونۍ اهداف پلي کړي.

د نفوذ د اعمال په دې تقابل کې پانګوال نظام او یا غربي بلاک په ۱۹۸۴ کال کې د استعمارضد او ازادي غوښتونکیو نظریاتو او خوځښتونو، د شوروي متحدو او ملي دولتونو په خلاف د ضعف ټکی په نښه او د ترمیم لپاره یې طرحه وړاندې کړه. پدغه طرحه کې د لیبرالیزم د نظریې په تقویه او د غربي ارزښتونو او موخو په پلي کولو، د ملي او شوروي متحدو دولتونو په کمزوري کولو، او بالاخره د خلکو په راپارولو کې د غیر دولتي سازمانونو یا انجوګانو نقش ډېر مهم وبلل شو.

همدې ټکي ته په پام، هغه وخت د امریکا په مشرۍ د غربي بلاک د نفوذ پراخولو مهمې وسیلې همدا غیر دولتي او بین المللي سازمانونه ول؛ لکه د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان (Organization for Security and Co-operation in Europe - OSCE)؛ د امریکا د نړیوالو مرستو پراختیایي اداره(United States Agency for International Development - USAID)؛ دجورج سوروس د پرانیستې ټولنې بنسټونه(Open Society Foundation - OSF)؛ د هیفوس په نوم هالنډي بنسټ(Humanistisch Instituut voor Ontwikkelingssamenwerking - Hivos)؛

د المان د فدریش ایبرټ بنسټ او په لسګونه نور سازمانونه رامنځته شول چې د تمرکز جغرافیه یې منځنۍ اسیا، افریقا او لاتینه امریکا وه.

د تېرې پیړۍ په وروستۍ لسیزه کې د شوروي اتحاد او د سوسیالیستي هېوادونو د بلاک له ړنګېدو وروسته، نړیوال دوه قطبي نظم هم ړنګ او په یو قطبي بدل شو چې په سر کې یې امریکا او د هغه متحدینو د لیبرال نړیوال نظم تهداب کېښود.

د شوروي اتحاد له ړنګېدو او د نوي نړیوال نظم راوروسته، دغه سازمانونو ته اړتیا لا پسې زیاتېده او حتا دا ځل یې د پخواني شوروي اتحاد اړوند جمهوریتونو کې چې نوي مستقل شوي ول، فعالیتونه هم څو چنده ګړندي کړل. دغه مهال د دغه سازمانونو شمېر څو سوه زره ته رسېده چې اکثره یې د امریکا د نړیوالې پراختیا او په لویه کې د لیبرال نړیوال نظم د سرکښانو لخوا تمویلېدل.

د امریکا په مشرۍ د نوي نړیوال نظام پیل او دوام  د دغه هېواد او لیبرالیزم د اوج داسې نقطه وګڼل شوه چې هیڅ بل نړیوال سیال یې نه درلود، او په دې وخت کې نړۍ د نړیوالتوب (Globalization) له نوې او معاصرې څپې او پدیدې سره مخ شوه.

د فوکویاما (Yoshihiro Francis Fukuyama) د نظریې په اساس د شوروي اتحاد او په اصطلاح شرقي بلاک نسکورېدل د تاریخ پای اعلان شو او دا مطرح شول چې په نړۍ کې یوازیني ارزښتونه، لیبرال ډموکراسي او نړیوالتوب دی، او هغه هم د غربي فرهنګ او نړۍ لید او باورونو په اساس چې دوی یې د نړۍ شمولیت ادعا کوله. مانا پرته لدې چې د نورو ټولنو د فرهنګي او جغرافیایي تفاوتونو ته ارزښت ورکړي؛ دوی هڅه کوله لیبرال او غربي ارزښتونه جهان‌شموله معرفي او په ټولو یې یو شان تطبیق کړي.

سره له‌دې چې په علم او فرهنګ کې د لویدیځ له تمدني ونډې انکار نشي کېدلی، او هلته په مشخص ډول د روښنګرۍ‌په عصر کې د ازادۍ، عدالت، برابرۍ او ډموکراسۍ په څېر مفاهیم وغوړېدل. صنعتي او سیاسي انقلابونه رامنځ ته شول چې بیا وروسته د ټولې نړۍ مترقي وګړیو ته د الهام سرچینه شول. خو دا مفاهیم په نورو غیر غربي ټولنو کې د ملي اګاهۍ او په غیر

استعماري ډول د هغه سېمې فرهنګي، جغرافيايي ارزښتونو او تفاوتونو ته په کتو باید خپله د هماغه ټولنې د ځايي خلکو له خوا د خپل ملي ظرفيت په اساس وړاندې او جذب شي؛ نه دا چې د خپلو استعماري سیاستونو او وسايلو لکه اینجوګانو په مټ په لږو پرمختللیو هېوادونو کې د مداخلې او یا مستقیم برید لهلارې، او بېرته دا پلمه شي چې ګنې موږ ددې لپاره ورغلي وو چې دا خلک متمدن کړو!

د شلمې پیړۍ په وروستۍ نیمايي کې نړیوال غیر دولتي سازمانونه او شرکتونه په نړیوال نظام کې د استعماري اجندأ د معاصرو لوبغاړو په توګه راڅرګند او لا په سیستماتیکه او نهادي ډول غښتلي شول.

په دې لړ کې، د زبرځواکونو لخوا  بې شمېره ګڼ ملتي شرکتونه او ګڼ ملتي غیر دولتي سازمانونه رامنځته شول. د ګڼ ملتي نړیوالو شرکتونو لخوا هڅه کېده چې په اقتصادي لحاظ د لږ پرمختللیو هېوادونو په اقتصادي نظامونو او سیاستونو کې تغییر راولي. او د اصلاحاتو په نوم ددغه هېوادونو شتمني لوټ او تالان کړي.

د دې لپاره چې د دغه لوټ تالان په وړاندې د بومي خلکو مقاومت کم کړي، پدې ټولنه کې لومړۍ باید سیاسي، خدماتي دولتي بنسټونه بې اعتباره کړي. ورپسې د منسجمو فکري سازماني مخالفت د مخنیوي لپاره انفرادیت او شخصیت جوړونه باندې تمرکز کېږي. دا هغه کار دی چې په اوس وخت کې يې غیر دولتي سازمانونه کوي .

د دغه ټولو غیر دولتي سازمانونو او مؤسساتو د کارکرد معمولا محصول دا وي چې نور هېوادونه له مالي پلوه دغه سازمانونو پورې تړلي پاتې شي، د اوږدمهاله پورونو د ورکړې له لارې هغوی ځانونو ته محتاج وساتي، د دولت د عامه خدمتونو پر بنسټونو د ولس باور کچه ټیټه کړي، په ټولنیزې ـ فرهنګي مهندسۍ لاس پورې کړي، په ټولنه کې د متنفذو او دوی ته د وفاداره افرادو له خوا د دولتي ارګانونو کنټرول ترلاسه کړي، او په لویه کې د ملي کمترۍ حس پیاوړی او پر غربي تمدن او ځواک باندې د دغو ټولنو اتکا ته زمینه برابره کړي.

## د شوروي خلاف د جهاد او کډوالۍ په کلونو کې د غیر دولتي سازمانونو رول

لومړني غیر دولتي سازمانونه چې په مستقیم ډول یې کولای شوای له نړیوالو مالي ادارو او هېوادونو پیسې ترلاسه او بیا یې پخپله خوښه ولګوي؛ د شوروي خلاف د جهاد په کلونو کې په پېښور، کوټه، اسلام اباد او تهران کې رامنځته شول.

د جهاد په کلونو کې له جهاد او مهاجرو څخه د ملاتړ په نوم تقریباً د هر مطرح نړیوال سازمان یوه څانګه په پېښور کې پرانیستل شوه. اکثره دغه سازمانونه د غربي او عربي هېوادونو پورې اړوند ول، چې کډوالو او د جهادي ډلو جنګیالیو ته د بشري مرستو ترعنوان لاندې د خوراکي توکیو د ورکړې، روغتیا او زدکړو په برخه کې یې فعالیت درلود.

دغه مهال غربي هېوادونو اړتیا درلوده چې د افغان مهاجرینو په منځ کې ملي او مترقي فکر له منځه یوسي، څو افغانان له جګړې په بل شي فکر ونشي کولای. ځکه د غربي بلاک لوی هدف په افغانستان کې د شوروي ماتول او په ویتنام کې د امریکا د شکست انتقام اخیستل و. د پاکستان په شمول، د خلیج عربي هېوادونو ته چې په غربي بلاک کې شامل و، د مذهبي ډلو او جهادي تنظیمونو د جوړېدو او ملاتړ دنده ور وسپارل شوه. دغو هېوادونو پخپلو پرېمانه مرستو د ډیورنډ کرښې په اوږدو او د افغان کډوالو په کمپونو کې په زرګونه دیني مدرسې او جهادي ښوونځي جوړ کړل څو په افغانانو کې جنګي او جهادي روحیه پیاوړې او په زړونو کې یې د افراطیت اور تازه وساتي.

بله خوا هغه افغانان چې نه یې غوښتل خپل بچیان دیني مدرسو ته ولېږي، غوښتل یې عصري تعلیم پرې وکړي، نو هغه وخت د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې پخپل هېواد کې د نبراسکا پوهنتون ته دنده وسپارله چې د افغان مهاجرینو لپاره عصري درسي نصاب جوړ کړي. په دغه نصاب کې حتا د ریاضي کتابونو کې هم جهادي او جنګي ادبیات ننوېستل شول. لکه لس ټانکونو څخه چې څلور وسوځول شي، څو پاتې کېږي او داسې ...

د افغانانو د افراطي کولو او له خپلو ملي ارزښتونو او تاریخ څخه د بېخبره ساتلو ددغې سترې پروژې پر وړاندې تر ټولو غټ خطر د کډوالو په منځ کې د علمي، لوستو او متخصصو افغانانو

موجودیت و. چې د افغانستان په تېرو نظامونو کې په ملي روحیه روزل شوي ول، خو په کابل کې د حاکم حکومت له ډاره کډوالۍ ته مجبور شوي ول. هغوی به تل په دغسې برنامو؛ لکه د نبراسکا پوهنتون لخوا په جوړ شوي نصاب نیوکې کولې.

بالاخره په دې اړوند د جهاد ملاتړو نړیوالو قدرتونو د همدې غیر دولتي سازمونو څخه کار واخیست؛ ترڅو دغه ملي فکر لرونکي افغانان ورته مدیریت کړي. دوی د جهاد او مهاجرت پر مهال د ملتپالو افغانانو څخه د ځان خلاصولو او خپلو فعالیتونو پر وړاندې د دغه خنډ د له منځه وړلو لپاره یو شمېر ستراتیژۍ پلې کړې. لومړی یې له غربي هېوادونو وغوښتل چې مختصص او ښاري افغانان له پېښور او کویټې ښارونو لرې کړي او غربي هېوادونو ته یې ولېږي. په ۱۹۷۹ کلونو کې له کوټې او پېښور څخه د ګڼ شمېر دغو ملتپالو او تحصیل‌کړو افغانانو لپاره اروپا، امریکا او استرالیا ته د انتقال اسانتیاوې برابرې شوې او د افغان مهاجره ټولنه یې له زرګونو تنه پوه شخصیتونو څخه تشه کړه. دویم، هغوی چې نه غوښتل غربي هېوادونو ته لاړ شي، د هغوی لپاره یې په غیر دولتي موسسو کې په لوړو معاشونو د کار زمینه مساعده کړه، او دغسې یې د دوی د سیاسي انسجام او ملي حرکتونو مخه ونیوله او میدان یوازې او یوازې جهادي ډلو ته پاتې شو. ورته سناریو د ۲۰۲۱ کاله په اګست کې چې کله طالبانو ته کابل وسپارل شو تکرار شوه، او په شلو کلونو کې اکثریت روزل شوي متخصص افغانان له هېواده وباسل شول او یا یې د وتلو لار ورته برابره کړه؛ څو د طالبانو استبدادي واکمنۍ ته سرخوږی جوړ نه کړي.

سربېره پردې، د دې لپاره چې د غرب او پاکستان د سیاستونو، بیا مشخصاً د افغان کډوالو په منځ کې افغانستان سره د روانو بې‌عدالتیو او د کډوالو ټولنې د افراطي کېدو په ضد غږونه خاموش کړي؛ سم‌دستي یې د افغان روشنفکرانو د ترور سلسله شروع کړه. په لسګونه مهم ملي شخصیتونه یې په پېښور کې ترور کړل. په دغسې یو ډول شرایطو کې د ملتپالو افغانانو پر وړاندې د درې ـ څلورو لارو څخه پرته بل انتخاب نه و. یا به غرب ته تبنتېدل، یا به یې له غیر دولتي موسسو سره د مطلقې خاموشۍ په قیمت کار کاوه، یا به یې ترور ته غاړه ایښوده او یا به هم بېرته افغانستان ته تلل.

دغه مهال په پاکستان کې په لسگونه د نړیوالو مؤسساتو زېرنده افغاني غیر دولتي سازمانونه رامنځته شول او ددغو بنسټونو مشرانو به د حیات اباد په ځېر لوکسو ځایونو کې کورونه درلودل. بچیان به یې د پاکستاني نخبه ګانو په ښوونځیو کې درس وایه او بیا به یې ورته د امریکا او لندن سکالرشیپونه اخېستل.دوی به په بین المللي کنفرانسونو کې د اشتراک لپاره د الوتکو په بزنس کلاس کې سفر کاوه، پنځه ستوریزو هوټلونو کې پاتې کېدل او بیا به کنفرانس ته لاړ چې د افغان کډوالو راپور او ګزارش واوري او له هغې خوا ځان سره نورې زیاتې پیسې راوړي. په همدې موده کې له جهادي او مذهبي څېرو سره جوخت، دا د اینجوګانو مدیران او مشران یو بل مدني - اجتماعي قشر و چې رامنځته شو.

ددې سره په ورته وخت کې افراطي  مذهبي نهادونه او موسسې بیا عربي هېوادونو تمویلولې چې سلفي او اخواني افکار یې خپرول. د دغو مذهبي موسسو مشرانو د کډوالو په کمپونو کې له عربي هېوادونو راوړل شوي توکي لکه: حلال کړي پسونه، خرماګانې او د ذکات نقدې پیسې وېشلې چې په دې اساس دا ډله هم ډېره شتمنه شوه، دوبۍ او عربي هېوادونو کې یې بزنسونه او کاروبارونه پیل کړل، او سیاست کې هم ښکېل پاتې شول.

په دې اساس د شوروي په ضد د جهاد او مهاجرت په دغو کلونو کې د غیر دولتي سازمانونو له لارې دا ټولې کټګورۍ افراد او ډلې بیا مشخصاً د همدې مؤسساتو غرب او عرب‌پلوه مشران یا په بله اصطلاح لیبرال او مذهبي افراطینو سره پرېمانه پانګه، پیسې او امکانات لاس کې ول، او ترځنګ یې په خلکو کې هم نفوذ پیدا او هم یې قوي بهرنۍ اړیکې ټېنګې کړای شوې.

د دغې کټګورۍ د څېرو نقش د ۲۰۰۱ کال وروسته چې کله په افغانستان باندې د امریکا د یرغل په پایله کې  کوم رژیم رامنځ ته کېږي لا ډېر محسوسېدلای شي. دوی د تکنواکراټ او تحصیل‌کړو په نومونو چې هماغه د غیردولتي سازمونو ارشد لیبرال کارکوونکي او جهادیان دي، د مهمو مشاورینو او وزیرانو په توګه مقررېږي او بلاخره په تېر شل کلن حضور کې ترې سیاسي او ولسي څېرې جوړوي.

له همدې امله دا ویلی شو چې د غیر دولتي سازمانونو یوه مهمه دنده همدا شخصیت‌تراشي یا

د نویو سیاسي څېرو پیدا کول او مطرح کول دي چې تر خپل وطن زیات بیا ېبرته لیبرال او غربي ګټو او ارزښتونو ته وفاداره وي. د مجاهد او لیبرال د ائتلاف او موازي کار داستان دغسې پیل شو او بالاخره په تېر جمهوریت کې اوج ته ورسېد.

## په تېر اسلامي جمهوري نظام کې د غیر دولتي سازمانونو رول

د اسلامي جمهوریت په ۲۰ کلونو کې چې د امریکا متحدو ایالتونو په مشرۍ د ناټو غړیو هېوادونو د پوځیانو او دغه‌راز د دې نظامي ائتلاف سربېره د محتدو ایالتونو ځینې نور ملاتړي هېوادونو پورې اړوند زرګونه غیر دولتي سازمانونه، مستقل قراردادیان او ځیني افغان الاصله پرسونل هم افغانستان ته راوستل شول. په ۲۰۰۱او ۲۰۰۲زېږدیز کالونو کې په پېښور او اسلام اباد کې مېشتو ټولو انجوګانو خپل دفترونه کابل ته را انتقال کړل. د جمهوریت له پیله د بُن کنفرانس او لندمهالې اداري راپیل تر لویې جرګې او ان تر لومړنیو ولسمشریزو ټاکنو پورې په مستقیم ډول د دولتي دستګاه عملیاتي، لوژستیکي او خدماتو برخه د څو پوړیزو قراردادونو له‌لارې د همدې غیردولتي سازمانونو لخوا ترسره کېدل. د دغو سازمانونو لخوا د پروپوزل لیکلو او انجویي بیروکراسۍ سیستم د حکومت پر بیروکراسۍ مقدم ګڼل کېده او هره برخه پرته له‌دې پروژه‌محوره انجویي فرهنګه بل‌ډول نه مدیریت کېدله. همدا و چې د هېواد په اصطلاح د دولت‌جوړونې بهیر تخنیکي ـ عملیاتي اړخ انجوبازو تکنوکراتانو او سیاسي رهبریت بېرته مخکنیو مجاهدینو ته ورسېد.

په دغه دوره کې د همدې انجویي ایکوسیستم له چتر لاندې په زرګونه انجوګانې له سلهاوو زرو پروژو سره د هېواد په مختلفو برخو/سکتورنو کې فعالیت کاوه چې د ټولو شنل او په اړه یې لیکل ګران کار دی، خو دلته یې یوازې په مختلفو سکتورونو کې د دغو انجوګانو د عمل‌کرد نوعیت، فعالیت او اغېز باندنې تمرکز کوو.

## لومړی، د تکنوکراسۍ تر عنوان لاندې په دولتي موقفونو کې د اتیایمو او نوېیمو کالونو انجویي څېرو نصبول

بل ډول انجویي څېرې او لیبرال تکنوکراتان هغه ول چې په اتیایمو او نوییمو کالونو کې په

پېښور او غربي هېوادونو کې د پروژو په وسیله مطرح شوي او شتمن شوي ول، دغې کټګورۍ خلکو ته بیا د بن کنفرانس او پروسې له لارې د افغانستان په حکومت کې ځوکۍ ورکول شوې. دا خلک بیا د جمهوریت په شلو کلونو کې د سفیرانو، رئیسانو، مشاورینو، والیانو او وزیرانو په توګه مطرح او موجود ول. د دوی له ډلې یو هم د کومې سیاسي ـ ولسي پروسې له لارې نه و، مطرح شوي. یعنې دوی د هیڅ سیاسي سازمان غړي نه ول، خو په ډېره اسانۍ سره یې وکولای شوای د شلو کالو لپاره په قدرت کې په بېلابېلو ځوکیو کې پاتې شي. دوی په دغومره موده کې یوه شېبې لپاره هم په دوامداره توګه د ملي دولت د ایجاد لپاره هڅه ونکړه او په عمدي او غیر عمدي ډول نه یوازې د ملي سیاسي پروسو مخالفان پاتې شول بلکې برعکس د همدغه جنګسالارانو ترمنځ د اختلافونو په موجودیت کې د منځګړیتوب دنده پر مخ وړله او د دغه جریان تخنیکي تسهیلات یې وړاندې کول.

دغو انجویي سیاستوالو چې هم یې دولتي موقفونه یرغمل کړي ول، هم یې دولت څخه دباندې د میلونونو ډالرو قراردادونه اخیستل، خپل ډېر وخت به یې د دولتي ادارو د دفترونو او حکومتي کار پرځای پخپلو شخصي انجویي کارونو او دفترونو کې تېراوه. پدې اړه حتا ټولنیزو رسنیو کې په ځلونو شکایتونه کېدل، خو د دولت له ودانیو څخه د باندې د شخصي دفترونو لرل یو ډول تشریفاتي سیالي وه چې تر اخره د دوی ترمنځ جاري وه.

دوی نه یوازې له دولتي امکاناتو او امتیازاتو څخه ناوړه استفاده کوله او په فساد کې ښکېل ول؛ تر څنګ یې د خپلو شخصي موسسو په وسیله هم په میلونونه ډالره لګول او په مدني او پرانیستې ټولنې کې یې د نفوذ او شخصیت‌سازۍ شبکې لرلې او دې سره دا خلک ډېر ژر په لویو تاثیر ګذاره شخصیتونو بدل شول.

دغه‌راز د حکومت څخه دباندې یو شمېر نورو د انجوګانو مشرانو ته بهرنیو ځواکونو او هېوادونو داسې پروژې ورکولې چې په اساس یې لرې پرتو سېمو ته مرستې او ځینې خدمات ورسوي. په ولایتونو او ولسوالیو کې د دولت د عامه پالیسۍ د تطبیق او خدماتو د وړاندې کولو دستګاه په ځای دغې چارې انجویي افرادو او مشرانو ته زمینه مساعده کړه چې خلکو سره اړیکه ونیسي، او له‌دې لارې یادو ټولنو کې مطرح او د بانفوذه افرادو په توګه مطرح شي. د دې لپاره چې دغه

نوي رسېدلي شخصيتونه په ټولنه کې لا زيات مطرح شي، خلکو ته د بهرنيو مرستو د رسولو تر څنګ يې په اصطلاح د بيان آزادۍ څخه په استفادې په هماغو سيمو کې د مرکزي حکومت په سياسيونو نقدونه کول. د همدې زمينې له‌لارې دا خلک هم شتمن شول او هم په لنډه موده کې د سياسي شخصيتونو په توګه مطرح شول. دغو نويو مطرح شويو انجويي شخصتونو وروسته په ډېرې اسانۍ سره وکولای شول چې انتخابي او سياسي نهادونو ته، لکه ولايتي شوراګانو، ولسي جرګې او دولتي ادارو ته لار پيدا کړي. د انجويي کار دغه تاکتيک نه يوازې محلي ـ قومي جوړښتونه بې‌مورده بوخت، تضعيف او فاسد کړل، بلکې د سياسي ولسي سازمانونو د رامنځ ته کېدلو اړتيا يې هم په نطفه کې وچه کړه.

## دويم، عامه اړيکې او ټولنېزې رسنۍ

د ۲۰۰۱ کال په ډيسمبر کې بوش اعلان وکړ چې د امريکا متحد ايالتونه او متحدين به يې په افغانستان کې جګړه پيلوي، د دغه جنګ له اعلان سره جوخت په عاجله توګه لومړنۍ انجوګانې رامنځته او پروژې ورکول شوې چې لومړنۍ موخې يې د افغانستان په ولايتونو او مرکز کې له تندلارۍ او تروريزم سره تبليغاتي مبارزه وه او په افغانستان کې د امريکې او ناټو پوځيانو کړو وړو ته توجيه لټول ول.

پدې کې تر ټولو غټه پروژه د (Countering voilent extremism - CVE) په نوم وه چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت او استخباراتو په ګډه تمويلوله. دې او ورته برنامو وکولای شول چې په مرکز او ولايتونو کې په لسګونو راډيوګانې، تلويزيونونه، په سلهاوو اخبارونه او انلاين ويبسايټونه رامنځته، تمويل او فعال وساتي. دغې رسنيزې شبکې د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې د امريکې او ناټو غړيو هېوادونو د ځواکونو او په ولايتونو کې د دوی د پي‌ار ټي‌ګانو (PRT) د موجوديت اړتيا او ماموريت، له ترهګرۍ سره د جګړې په بهير کې د دوی لخوا د شپنيزو عملياتو او د هوايي بريدونو توجيه کولو لپاره سيستماتيک تبليغاتي بستر چمتو کاوه. د دې سربېره، دغو رسنيو د داسې سوژو د روايت لپاره شپه او ورځ کار کاوه چې د افغان‌ټولنې تحصيل کړی او ملتپاله قشر پکې بې‌ګټې او بې‌اړتيا بوخت وساتي او د دوی د بومي او ملي فکري توليد نوښت مخه ډب، کنټرول او يا مهندسي کړي.

په دې برخه کې د (National Endowment for Democracy -NED)، او USAID ادارې هم زیات شمېر پروژې تمویل او رهبري کړې دي.

د غیردولتي سازمانونو په مرسته جوړ د عامه اړیکو او رسنېزو شبکو له ایجاد څخه هممهالې بله اساسي موخه دا وه چې د همدې مجاهدینو او انجوبازو تکنوکراتانو/نخبهګانو ته شخصیت سازي یا کرکټرایزشن وکړي. دا چې په کابل کې نوې اداره له هماغه مجاهدینو او جنګسالارانو څخه جوړه وه چې په نوییمو لسیزو کې یې هر یو د مقابل اړخ زرګونه کسان وژلي ول، نو د دوی ډېر وخت د حکومتي بنسټونو د جوړېدو په ځای د چوکیو او امکاناتو په وېش، او د شخصیتسازۍ په تبلیغ لګېده. نو، دغه رسنۍ چې یو نه یو ډول د دغو جنګسالارانو، او یا انجویي - جهادي ګډ جوړښت لخوا حمایه کېدلې د دولت دننه د باجګیریو او د چارواکیو ترمنځ د توطئیو په سنګرونو واوښتلې او د فشار په واردولو سره یې د دولت د تصامیمو په مهندسۍ کې د پام وړ نقش درلود.

## درېیم، د لوژستیکي قراردادونو د ورکړې په وسیله د محلي وړو او لویو زورواکانو حمایه

د هېواد په یو شمېر لویو، اغېزلرونکیو او ستراتېژیکو سیمو، لکه جنوب غرب او شمالي ولایتونو کې زورواکوانو یو ډول محلي انارشیکې امپراتورۍ او شبکېجوړې کړې وې. په دغو ولایتونو کې محلي حکومتونو، والیانو او حتی امنیتي - دفاعي بنسټونه عملا د دغو محلي شبکو لهاړخه ګواښېدل او یا به یې تر نفوذ لاندې خپل کارونه تنظیمول. دوی د امنیتي کمپنیو په نوم غیر دولتي وسلوال لرل، د مخدره موادو په قاچاق کې ښکېل ول، له مخکنیو جهادي ډلو سره یې د جرمي اقتصاد په مدیریت کې مخکښان ول، مدني ټولنې یې استخدامولې او د تبلیغ او فشار په موخه یې عامهرسنۍ یا جوړولې او یا تمویلولې. دوی جرمي شبکې لرلې او پخوانیو جهادي ډلو سره د سیاسي او اقتصادي اړیکو په زور یې محلي ادارې او موقفونه برمته او خپلو خلکو په اختیار کې ورکول. دوی دومره غښتلي وو چې هر یو یې کولای شوای مرکزي حکومت چلنج کړي. د دغې طبقې خلکو مالي او د بهرني ملاتړ عقبه د ۲۰۰۱ کال څخه نیولې تر سقوط ورځې پورې د بهرنیو ځواکونو د پيارټي، ایساف او مختلفو سفارتونو لوژیستکي قراردادونه ول. دوی ته په

مستقیم ډول، پرته له تدارکاتي پروسې داسې قراردادونه ورکول کېده چې د یو قلم توکي ارزښت به د بازار د نرخ په تناسب سل ځلې لوړ و. لویو زورواکانو به دا قراردادونه بیا نورو محلي کمپنیو ته لس ځلې بیا بیا په قرارداد ورکول، او د دې په نتیجه کې د لویو او وړو زورواکانو د اقتصادي امپراتوریو شبکه‌یي جوړښت لا پسې پراخېده، او په ډېر ډراماتیک او تصاعدي ډول شتمن کېدل.

دا طبقه خلک، د نقش او کرکټر له لحاظه د ۱۸۴۱ کال د انګریزانو د راتګ پر مهال د رامنځته شویو نخبه ګانو نوې بېلګه وه . لکه په تاریخي شالید کې چې ترې یادونه شوې چې انګریزان د لومړي اشغال پر مهال د کابل په بالاحصار کې ځای په ځای شول؛ نو انګریزانو یو شمېر ښاري او د نږدې سیمو زورورو ته لوژیستکي قراردادونه ورکړل، بیا دوی تر څو نسلونو په افغاني ټولنه کې د انګریزانو د سیاسي نفوذ د اعمال لپاره استخباراتي وسیلې وګرځېدې. کټ‌مټ دغې تاریخي بېلګې ته ورته، د جمهوریت د وخت دغه محلي زورواکان په وروستیو کلونو کې د ډالرو په زور ولسي جرګې ته هم داخل شول او جالبه دا چې تر سقوط وروسته په سیاسي او اقتصادي محیط کې لا هم مطرح پاتې شوي دي.

## څلورم، غیر وسله والو مذهبي افراطي ډلو او سازمانونو ته د پروژو ورکول

څلورمه ډله افراطي مذهبي نیمه انجویي سازمانونه ول. دا نیمه انجویي سازمانونه هغو مذهبي سازمانونو او ډلو پورې تړلي ول چې دوی وسلوال نه‌لرل، خو د د دولت بیا ترټولو مهم افغان ملي او بومي هویت، افغان‌نشنلیزم او سیاسي تاریخ پر وړاندې یې د تکفیر او نقد ژبه او ادبیات پنځول. دوی ته د خیریه موسسو په توګه پروژې ورکول کېدې چې په اقتصادي لحاظ تقویه شي، خو اساسي هدف یې دا و چې دوی په افغانستان کې د پرمختګپالو او مترقي سیاسي پروسو مخه ونیسي. په نطفه کې ملي‌پال او بومي حرکتونه وځپي او دا دافغانستان د سنتي او دیني هویت پر وړاندې د خنډ په توګه تداعي کړي. دا هغه ډلې وې چې د جمهوریت په ادبیاتو کې ورته د تعامل وړ معتدل اسلامپال ویل کېدل.

د دغو افراطي ډلو افراد به تل د ناټو د قوماندانانو، د هغوی د ملکي ادارو له مشرانو سره اړیکې درلودې.دوی د سیاسي دوه مخیتوب او اخلاقي انحراف داسې عالم‌برداران ول چې تر اخره یې

له حکومته هم امتیازات اخیستل او هم به یې د اپوزیسیون بیا په تېره مذهبي منتقد نقش لوباوه، او هم به په ټولو پروسو کې شامل ول.

## پنځم، د پرانیستې او مدني ټولنې ترعنوان لاندې د موازي حکومتي نهادونو په بڼه انجویي تداخل

د لیبرال دموکراسۍ له نوې څپې سره د پرانیستې او مدني ټولنې مفاهیم هم ډېر په چټکۍ سره خپاره شول. په دې برخه کې د هغو تحصیل‌کړیو او ځوانانو نقش د پام وړ و، چې بهرنۍ ژبې یې زده کړې وې او په‌دې پوهېدل چې انجویي فرهنګ کې څه ډول ولوبېږي. دوی ته د ښځو او بشري حقونو د پروژو، قانون څخه د ښار اداري او بنسټونو د ایجاد، د ښځو د مهارتونو لوړولو او توانمندۍ، د موثرې حکومتدارۍ، د بیان د ازادۍ، د ماشوم د حقونو، جنسیتي برابرۍ یا جنډر پروژو، او بالاخره د جمهوریت په وروستیو کلونو کې د سولې په اړه د عامه پوهاوي په نامه په لسهاوو میلونه ډالره ورکول شول.  دا طبقه خلک د بشري حقونو او بې‌وزلۍ په اړه د نړیوالو کنفرانسونو له ځایونو؛ لکه  واشنګټن، بنکاک، توکیو، بروکسل، روم او نورو ښارونو  سره تر خپل هېواد د ختیو له کلیو ډېر اشنا ول/دي او خپل زیات وخت هلته تېروي. هغوی دې ته ډېر لیواله وي چې د «متخصصانو» لپاره د بهرنیو اسعارو مالي سرچینو د ترلاسه کولو په موخه نوې طرحې ولیکي؛ نه دا چې د هغو کلیوالي ښوونځیو، روغتیایي مراکزو او د طبیعي پېښو ځپلو سیمو ته سر ورښکاره کړي.

سربېره پر دې، په ډېرو مواردو کې د «غیردولتي» سازمانونو شعارونه د هغو دولتي عامه پروګرامونو او بنسټونو پر وړاندې د برید یوه توطئه وه چې ټولنیز خدمات وړاندې کوي. مانا، همدغه انجویي پروژو ته جوړ شوي سازمانونه یو ډول د حکومت سره موازي جوړښتونه ول چې نه یوازې مؤثریت یې نه‌لاره، بلکې د دولت د تضعیف او اصلاح پروسه یې هم درولې وه. دا خلک وروسته نه یوازې مطرح شول، بلکې مرکزي حکومت هم د دوی په وسیله کمزورۍ وساتل شو.

دغه‌راز، د پرانیستې او مدني ټولنې مفهوم چې له تحلیلي پلوه بې‌ګټې او مغشوشوونکی دی، په عین حال کې له هغو استعماري ګټو سره د انجوګانو همکاري اسانه کوي چې د هغوی مالي

سرچینې برابروي. غیر دولتي سازمانونو ته زمینه برابروي چې خپلې طرحې او پلویان د هغو سترو پانګه‌والو او استعماري ځواکونو د ګټو له تابعانه اړیکو سره وتړي چې نیولیبرال اقتصادونه رهبري کوي.

په دې برخه کې د فعالو انجوبازانو یو بل زیان‌اړونکی نقش دا و، چې د افغانستان د تقنیني نظام/ قانون‌جوړونې بهیر کې یې لاسوهنه پیل کړه. د افغانستان اساسي قانون، د انتخاباتو او ځینو نورو فرعیقوانینو په واسطه د غیر دولتي سازمانونو ښکېلتیا، ونډې او اغېز لپاره پراخه زمینه مساعده کړای شوه. د جمهوریت تر وروستۍ ورځې پورې د غیر دولتي سازمانونو د تنظیم قانون د بهرنیانو د مداخلې له امله ولسي جرګې تصویب نه شو کړای. د یاد قانون څو ځلې مسوده بدله را بدله شوه او تر اخره مسوده پاتې شوه. د بهرنۍ مداخلې ترڅنګ یو بل دلیل دا و، چې د ولسي جرګې هرو دوو استازیوکې یو هرو مرو پخپله غیر دولتي سازمان درلود، او یا له یو بلې انجو یې امتیاز اخیست.

همدارنګه، د ټاکنو او احزابو قانون داسې جوړ شوی و، چې د احزابو او ولسي فکري ګوندونو د ایجاد او پرمختګ په ځای پکې مستقل او انجویي اشخاص حمایه کېدل. له وزیرانو او والیانو نیولې د پارلمان تر غړیو پورې ټول پکې د مستقلو اشخاصو په توګه راغلي ول، او هیڅ یو سیاسي، فکري او ملي اپوزیسیون موجود نه و. د انتخاباتو قانون د ملي ګوندونو د ایجاد لپاره بستر نه شو آماده کولی، او لنډه دا چې تېر جمهوریت د اساسي قانون د متن له‌مخې جمهوریت او ډموکراسي پکې په ظاهره بڼه د ټاکنو له لارې تمثیلیده، خو موږ په نړۍ کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت په څېر د ډموکراسۍ یوه داسې معاصره بڼه نلرو. ځکه پرته له ملي او سیاسي ګوندونو ډموکراسي اصلا ممکنه نده. په ډموکراسۍ کې ګوندونه د سیاسي پروسو مهم لوبغاړي وي، ګوندونه د مختلفو افکارو او سیاسي برنامو له لارې ټولنې ته بدیلونه وړاندې کوي او د ټولنې د بیلابېلو اقشارو سیاسي لوری او اراده منعکسوي.

دغه‌راز، د جمهوریت په ټوله دوره کې له دولتي تعیناتو څخه نیولې تر انتخاباتي بنسټونو او تشکیلاتي او سیاسي پروسو پورې د داخلي انجوګانو سربېره بهرنیو انجویي استازو ته هم د فرعي «غوراوي کمېټو» د جوړېدو لړۍ روانه وه او دوی پکې غړیتوب لاره، چې له کبله یې په

دولتي مهمو څوکیو او کمېسیونونو کې د افرادو په ټاکنه، او دولتي سیاسي پروسو کې د دوی مداخلې زمینه مساعدېدله. د بېلګې په ډول موږ د بُن کنفرانس په پروسې، پر اساسي قانون د څار کمېسیون، د ټاکنو خپلواک کمېسیون، د بشر د حقونو کمېسیون او ګڼو نورو ډېرو ادارو کې او بالاخره د طالبانو - امریکایانو ترمنځ د دوحې مذاکراتو کې د اساسي قانون په خلاف، د همدې انجوګانو او انجویي فرهنګ د ښکېلتیا او مداخلې موارد یادولای شو.

دې ته ورته، د جمهوریت په لومړیو کلونو کې چې د لوړ پوړو چارواکیو د ګومارنې بورډ په نوم کوم تشکیل موجود و، د هغه مشري د بشر د حقونو کمېسیون یو کمېشنر کوله او د دولتي ادارو تر څنګ یې د ځینو انجوګانو استازي غړي ول. دغه بورډ ظاهرا دنده درلوده چې په لوړو دولتي څوکیو د ګومارل کېدونکیو اشخاصو حقوق بشري سابقه ارزیابي کړي، خو دغه اصل تر اخره د هیچا په اړه تطبیق نشو؛ ځکه د سقوط تر وروستۍ شېبې پورې د جنګي جنایتونو او لویو جرمونو معالوم‌الحال عاملین په بشپړ قوت په دغو څوکیو کې ول.

د جمهوریت په ورستیو کلونو کې د پرانیستې او مدني ټولنې مخکښ انجوبازانو، د جنګسالارانو او د ټولنیزو رسنیو مشرانو سره لاس یو کړ او د خپل مخکښي نقش ته چې د بشر حقونو، د ښځو حقونو او د دموکراسۍ د تحقق نارې پکې شاملې وې، شا کړه او د سولې او اصلاح‌شویو طالبانو د تبلیغ پروژې ته یې کار ووایه. دې ته ورته، هغو جنګ‌سالارانو او مخکښو رسنیو چې د تروریزم ضد جګړه کې یې فعاله برخه درلوده او طالبانو ته به یې تر ټولو سخت کلمات لکه ترهګر/تروریست کارول، نور د سولې اړوند مفاهیم او طالبانو ته د سیاسي مخالف ادبیات کارول. د مدني فعالانو د څېرو او نقش د بدلون دا ماموریت د ۲۰۱۳ کال څخه، چې کله د طالبانو او امریکا اړیکې ښکاره شوې، پیل او بیا د سولې په مبارزینو او میکروفونونو بدل شول او د اسلامي جمهوریت په وروستیو کلونو کې یې ارګ د سولې دښمن ګاڼه!

## د: د اسلامي جمهورت تر سقوط وروسته، د انجوګانو او انجویي پروژو نوې نقشه

د تېر اسلامي جمهوریت له سقوط او د طالبانو له راوستو وروسته په افغانستان کې انجوګانې یا غیر دولتي سازمانونه چې د غرب لخوا تمویلېږي، په دوو برخو ویشلی شو.

## لومړی، د طالبانو له حاکمیته راښوکېدلې انجوګانې:

د امریکې متحدوایالتونو په ۲۰۱۳ کال کې د طالبانو لپاره په قطر کې د سیاسي دفتر په نوم لوی مقر جوړ کړ. لومړی یې دوی ته په مستقیم ډول ډېر زیات امتیازات، معاشونه، اوپراتیفي پیسې، عصري ویلاګانې او کورونه په اختیار کې ورکړل. بیا ولیدل شول چې دا مرستې کافي نه دي، نو د دوی د لا شتمن کولو لپاره یې لکه څرنګه یې چې مخکني تنظیمي جنګسالاران شتمن کړي وي، له هغه روش یې کار واخېست. نو د قطر دولت له لوري چې د فوټبال د نړیوال جام لپاره کوم تأسیسات او سټیډیمونه جوړېدل، په دغه کې یې ګڼ شمېر قطرمېشتو طالب مشرانو ته د ساختماني پروژو لوی لوی قراردادونه ورکړل. همدا و چې د طالب مشران په قطر کې د پیسو پیدا کولو او د تجارت په عصري لارو چارو بلد کړای شول. د طالب مشرانو د شتمن کولو دا پروسه د دې لپاره هم د اهمیت وړ وه چې بیا وکولای شي نورو جنګسالارانو سره سیاسي رقابت وکړي. طالبانو ته د کابل له سپارلو وروسته همدې قطر مېشتي طالبان په قطر کې د انجویي فرهنګ سره د بلدتیا، او غربیانو سره د سیستماتیکو اړیکو په برکت تجارتي شرکتونه، او نوې انجوګانې یا غیردولتي سازمانونه جوړ کړل. د همدې شرکتونو، او انجوګانو له‌لارې همدا طالب‌مشران له بین المللي لویو مرستندویه ادارو پروژې اخلي او هم د کانونو او لویو پروژو قراردادونه په انحصاري بڼه او یا هم د نورو افغان سوداګرو سره په ګډه اخلي. د دې سربېره، دوی ګڼ شمېر د تبلیغاتو او عامه‌پوهاوي په برخه کې هم رسنۍ او ورته سازمانونه جوړ کړي.

لکه څنګه چې په تاریخي شالید کې یادونه وشوه، دلته هم د استعماري االجنډأ په اساس د طالب مشرانو د شتمنولو پروسه ډېره پخوا پیل شوې وه او هدف دا و چې طالب مشران دومره شتمن شي چې له هغو جهادي مشرانو سره چې د رقابت ګډ محیط شریکوي، له سیاسي او ټولنیز پلوه سیالي وکولای شي او کله چې دغه طالب مشران شتمن شي، نو لکه د تېرو جهادي ډلو په څېر د راتلونکیو نویو استعماري سناریوګانو د تحقق په برخه کې به یې کنټرول اسانه شي. د طالبانو د رهبرۍ پوړ غړیو د شتمنولو څخه د استعماري کلاسیکې اجندأ یو بل هدف دا دی چې دا ډله د هېواد دننه د خپلې فکري عقبې د تقویت جوګه شي. مانا دوی وکولای شي چې د افراطیت او جهادي افکارو د تنور ګرم‌ساتلو لپاره جهادي مدرسې د هېواد په ګوټ - ګوټ کې ایجادې او

په دې اساس نه یوازې نسلي انرژي او فکر منحرف کړي، بلکې د استعماري ځواکونو دایمي ښکېلتیا ته تاکتیک په لاس ورکړي.

## دویم، د جمهوریت پرمهال جوړې شوې، خو په طالباني محیط کې ښکېلې انجوګانې:

دغې برخه کې د جمهوریت پر مهال جوړې شوې هغه ګڼ شمېر انجوګانې، مطرح اشخاص او رسنۍ راځي، چې له قانون څخه د دفاع، بشري حقونو، د ښځو حقونو او بیان ازادۍ، او د پرانیستې او مدني ټولنې د تقویت په برخه کې فعال ول. دغه‌راز په دې برخه کې هغه انجوبازارن راځي چې د جمهوریت په وروستیو کلونو کې یې د سولې پروژې اخستې وې، او د مطرح افرادو په توګه د همدغه بین المللي ادارو د فشار په اساس حکومت ته تزریق شوي ول.

دې ډلې ته په غرب کې د نرمو او لیبرالو افرادو په سترګه کتل کېږي. دوی ته د بشري او خیریه کارونو، د ملي اجماع، ملي ډیالوګ او طالبانو سره د تعامل، او اصلاح‌طلبۍ په نوم پروژې ورکول کېږي. دوی ډېر وخت د همدې عنوانونو او نومونو له‌مخې د هېواد څخه دباندې او کله ناکله دننه کنفرانسونه جوړوي او له‌دې لارې نه یوازې طالبانو ته مستقیم او غیرمسقیمې مالي سرچینې تأمینوي، بلکې له دوی څخه د مثبت تبلیغ په بدل کې امتیازات او قراردادونه اخلي. دوی په داسې حال کې چې د استعماري اجندأ د تحقق نرم‌افزار دي، خو بیا هم ښيي چې ګوندې د طالبانو او نړیوالې ټولنې ترمنځ د بشر او ښځو د حقونو د تأمین د ترجمانۍ مسؤلیت پرغاړه لري. دوی پخپلو فعالیونو کې د معتدل طالبانو او سنتي طالبانو ادبیات تولیدوي، کندهاري طالبان له کابلي طالبانو بېل معرفي کوي او په لویه کې د طالب تر چتر لاندې له طالبانو سره د تعامل او تفاهم خیالي تمه خړوبوي، او بالاخره د ملتپالو سیاسي سازمانونو له ایجاد سره په مخالفت کې ګڼ شمېر دغه انجوبازه سیاسي فعالان پر مخکنیو کاریزماتیکو څېرو باندې د راټولېدو لپاره تبلیغ کوي.

استعماري قدرتونه د دغه انجویي فعالیتونو له‌لارې نه یوازې د یادو هدفونو ترلاسه کول غواړي، بلکې په دې موده کې د نویو څېرو مطرح او رامنځته کول هم غواړي. دوی به وروسته

همدا نوې مطرح شوې څېرې د يوې بلې سناريو په اساس که چېرې مشترک حکومت راځي د تکنوکراتانو او بې طرفه شخصيتونو په توګه کاروي؛ لکه څنګه چې يې د بن په کنفرانس کې دغسې افراد تزريق کړل.

## نتيجه‌ګيري؛ د انجوګانو تاريخي ميراث او زده شوي درسونه

د دې رسالې د پيل په خبرو کې مطرح شويو پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره موږ په شاليد، او د استعمار کلاسيکې او ماډرنې اجنداګانو په عنوانونو کې ولوستل چې له بهره تمويل شوې انجوګانې/غير دولتي سازمانونه په اصل کې له نوي عصر سره سم د استعمار او لوبو نوي اوزار دي چې کټ مټ هماغه اهداف پلي کوي چې زاړه استعمار به د ځايي روحاني بنسټونو، قومي مشرانو او نورو بنسټونو د تمويل له لارې خپل نفوذ ټينګاوه او بيا به يې يو ملت استثماراوه. دا چې دغو غيردولتي سازمانونو/انجوګانو د استعماري اجنډا د تحقق په برخه کې افغان‌ټولنې ته څه په ميراث پرېښي، هغه په لاندې فرعي عنوانونو کې د دغې رسالې د نتيجه‌ګيرۍ په بڼه وړاندې کوو:

### الف، ټولنيز او فرهنګي ميراث او زده شوي درسونه:

د استعمار او بهرنيو هېوادونو په مرسته متکي غير دولتي ادارې/انجوګانې د تاريخ په اوږدو کې د ملي اقتصاد په پرتله په مراتبو زياتې مالي سرچينې لرلې. د همدغو سرچينو له مخې دوی وکولای شول چې د تاريخ په مختلفو مقطعو کې له مذهبي او ديني بنسټونو او ښاري متنفذينو څخه نيولې، تر قبايلي جوړښتونو او بيا وروسته د مدني او پرانيستې ټولنې تر عنوان لاندې تر ټوليزو رسنيو، جهادي کمپونو، او نخبه‌ګانو او کازماتيکو انجويي څېرو پورې په درسته افغان‌ټولنه کې پراخه انجويي شبکه‌سازي وکړي. دغې شبکې په لويه کې د بومي او سنتي جوړښتونو، تاريخي بنسټونو، د ستونزو او اجماع ولسي نهادونه، قومي او ټولنيز جوړښتونه، ولسي راټوليدنې او په لويه کې بومي فرهنګ د پروژه‌يي او انجويي فعاليت په منځپانګه کې تضعيف، وروسته‌پاتې او ناکارنده تداعي کړل.

په دې برخه کې موږ د تاريخ په اوږدو کې عنعنوي غيردولتي، خو ولسي بنسټونه، نورمونه او

ارزښتونه لرل چې د استعماري انجوګانو په راتګ سره یا کمزروي او یا په بشپړ ډول له منځه لاړل. د بېلګې په ډول: موږ په ښارونو کې د داوطلب‌کار، په کلیو کې د اشر په نوم د ولسي تعاون فرهنګ درلود چې نه یوازې له ټولنې او ستونزو سره یې د خلکو تعلق ساته، بلکې د خپلې ستونزې د حل په موخه یې ولسي نوښت او د مالکیت مشارکت ته هم ګټه رسوله. که په کلي کې د ویالې یا کاریز د پاکېدو او یا هر بل ټولنیز کار اړتیا پېښېده، نو خلکو به اشر ته مخه کړه او هره مسأله به یې پخپلو ابتدایي امکاناتو حلوله. دغسې که ښارونو کې کومه کوڅه ویجاړېدله، نو د ګذر خلکو به خپل امکانات شریک او هغه به یې جوړه کړه. دې ته ورته، دودیزې فرهنګي مېلې، ولسي مرکې، جرګې او جشنونه پرته د بهرنیو انجوګانو له مرستو په نورمال او طبعي توګه ترسره کېدل. خو د انجوګانو په راتللو سره په پروژه‌محوره فرهنګ کې پیسې د هرڅه د اندازه‌ګیرۍ معیار وګرځېدې، او د ملي، بومي او سنتي بنسټونو او په ټوله کې افغاني فرهنګ ریښه په وچېدو شوه.

په دې اړه یو کینیایي لیکوال او استعمار ضد مفکر Ngũgĩ wa Thiong›o وایي: «فرهنګي امپریالیزم، چې د بهرنیانو لخوا تمویلیږي ، د محلي هنري غړونو د بې‌ځایه کېدو لامل ګرځي او پر ځای یې د بهرنیانو لیدلورې په ټولنه تحمیلوي.»

په دغې رسالې کې د دغې پدیدې د ریښه‌موندنې هڅه موږ ته دا په لاس راکوي چې د تاریخ په اوږدو کې  استعمار د کلاسیکې او ماډرنې اجنډا په بنې په لږ پرمختللیو هېوادونو، لکه افغانستان غوندې ټولنو کې د غیردولتي سازمونونو له‌لارې لومړۍ د بشري حقونو، د ښځو حقونو، خیریه مرستو او د ټولنې د لومړنیو اړتیاوو لپاره د«بقا ستراتیژ» په بڼه خپله ښکېلتیا تنظیموي. دویم، ورپسې د ټولنې هغه لوستي او اګاه قشر، او اغېزناک ټولنیز - فرهنګي جوړښتونه د لوړو معاشونو، پیسو او پروژو په ورکولو استخداموي؛ څو د انجویي محیط پروړاندې نه یوازې خنډ وي، بلکې د تحرک څرخ یې هم جاري وساتي. ورپسې د ټولنې فرهنګي او ټولنیز نظم په داسې پانګواله تاکتیکونو مهندسي کوي چې د هرڅه د اندازه‌ګیرۍ معیار بیا مالي سرچینې او په لویه کې اقتصادي مولدیت وي. د دغسې محیط تداوم وکولای شول چې زموږ په ټولنه کې  د افغاني ابتکار، تفکر، نوښت، خلاقیت، رهبریت او مدیریت مخه ونیسي او پرځای یې انجویي فرهنګ نهادنه شي.

## ب، فکري میراث او زده شوي درسونه:

انجوګانې په لړ پرمختللیو هېوادونو؛ لکه افغانستان غوندې ټولنه کې د پرانیستې او مدني ټولنې د مفاهیمو د بیا ورپېژندنې له‌لارې د ژور طبقاتي وېش، طبقاتي استثمار پروړاندې د طبقاتي مبارزې فکر او باور له‌منځه وړي او د ملي تعلق، پرځان باور لرل او بومي میکانیزمونه بې‌ګټې او وروسته‌پاتې معرفي کوي، او تر‌ټولو ستر ماموریت یې دا وي چې د ملي ـ بومي روایت هر فکري عمق په ولس کې له‌منځه یوسي.

دغه‌راز، غیردولتي سازمانونه او انجوګانې د فکري انجنیرۍ په ترڅ کې د ټولنې د کنټرول لپاره په ولس کې هماغسې یو ډول توهم ایجادوي او د ټولنې په نخبه او لوستي قشر کې داسې باور رامنځته کوي چې ګنې په اوسنۍ نړۍ کې له دغو سازمانونو پرته د ټولنې چارې پر مخ نشي تللی. په دې توګه تر قوي او ملي دولت د غیر دولتي سازمانونو موجودیت مهم معرفي کوي، په دې سره ټولنې د اوږد مهال وخت لپاره په داسې برخلیک اخته کوي ، هیڅ ملي بنسټ ونلري او په همدغه غیر دولتي موسساتو چې د بهرنیو لخوا تمویلېږي، تکیه وکړي؛ لکه کټ‌مټ چې دا مهال افغان نخبه ټولنه په هېواد کې هر راز بدلون د افغان‌انسان د فکر او زیار محصول نه، بلکې په بهرنۍ مداخلې یا تسهیل پورې مربوط ګڼي.

د فکري انجنیرۍ په دغه تسلسل کې غیردولتي سازمانونو یا انجوګانو لخوا تمویلونکې پروژې او نهادونه یو شمېر پوهنتوني استادانو، رسنۍ‌والو، خبریالانو او متخصصانو لپاره د ټولنیزې برترۍ او اقتصادي غوړېدا په نویو وسیلو بدل شوي ول/دي. دغو کسانو چې پخوا یې په کم عاید د حکومت په پوهنیزو نهادونو او دغه‌راز په بومي او ملي جوړښتونو او سازمانونو کې فعالیت کاوه، خپلې دندې پرېښودې او د انجوګانو د ښه معاش لرونکیو مدیریتي دندو لپاره یې مخه کړه. دا چې اکثره لوستی قشر په تېره قلموال په همدې انجویي فرهنګ کې ښکېل ول؛ نو اکثره یې د ژورو مسائلو په ځای په ورځنیو پېښو لیکل او تمرکز کاوه. لنډمهالې، پروژه‌محوره او د مالي امتیاز په بدل کې فکري او سیاسي ملګرتیاوې د انجویي فرهنګ یوه داسې برخه وه/ده چې ډېرۍ وخت ترې د حکومت چارواکي، انجویي څېرې او جنګسالاران د خپل منځي رسنیزو توطئیو او شخصیت‌سازۍ په خاطر ګټه اخېستې او اخلي.

## ب: اقتصادي میراث او زده شوي درسونه:

د غیردولتي سازمانونو رسمي ادعاوې، چې د خپل دریځ د توجیه لپاره وایي دوی له بېوزلۍ، نابرابرۍ، او نورو اقتصادي ستونزو سره مبارزه کوي، هم د تجربې او مخینې له‌مخې غولوونکې دي او هم د ارقامو پربنسټ تېر ایستوونکې دي. د غیردولتي سازمانونو د فعالیتونو او شمېر د پراختیا او د ټولنې د ژوند د معیار د ټیټېدو، فقر، او بې‌وزلۍ ترمنځ مستقیمه اړیکه موجوده ده. د انجوګانو پراختیا نه سیستماتیکه بېکاري کمه کړې، نه یې د بزګرانو او کرهنې اړوند ستونزو ته د حل میکانیزمونه وړاندې کړي، او نه یې د مخ پر زیاتېدونکي غیررسمي کارګرانو څواک لپاره د ژوند وړ فرصتونه او مالي سرچینې برابرې کړې دي.

برعکس، دغه سازمانونه د جرمي اقتصاد په وده، محدود شمېر نخبه‌وو ته د بې‌مولده دندو په پاړسوب، له بې‌وزلۍ او نابرابرۍ سره د مبارزې ترعنوان لاندې یوازې د تجملګرا تش په نامه ناستو د بودجې په اماده کولو، د ښاريتوب/ Urbanization د پروژه‌یي کمپاین له‌لارې د بزګر/ کلیوال او ښاري/ ښارمېشتي ترمینځ د ټولنیز او اقتصادي ټکر په ایجادولو، طبقاتي نابرابرۍ او بې‌وزلۍ ته په هوا ورکولو او په لویه کې د دولت د اقتصادي بنسټونو او دستګاه په تضعیفولو سره، د مصنوعي اقتصاد په انجویي‌محوره محیط کې بوخت ول/دي.

دغسې یو محیط، انجویي فعالیت ته همېشه د یوازینۍ بقا ستراتېژۍ په سترګه ګوري او دا بالاخره د دې زمینه برابروي چې د انجوګانو د پراختیا لپاره یو دوامداره څرخ موجود وي. همدا دلیل دی چې کله هم پر انجویي فعالیت او هېواد ته د دغو انجوګانو له‌لوري په تلونکیو پیسو نقد او خبره کېږي؛ نو د همدې انجویي صف روزلي نخبه‌ګانو دا د هېواد د بې‌وزلو سره د بشري مرستو او په اوسني وخت کې د اقتصاد د بقاء د یوازینۍ مرجعې پر وړاندې د توطئې او دښمنۍ په عنوانونو مخې مخې ته کوي!

## ج: د انجوګانو سیاسي میراث او زده شوي درسونه:

غیر دولتي سازمانونو د بشري حقونو، د بشري خیریه مرستو او د ډیموکراتیکو مدافعانو په توګه خپل موقف په ټولنو کې وتراشه؛ څو د خپلو مالي سرچینو له لارې د قبایلو، قومي او مذهبي

بنسټونو او بیا د مدني او پرانیستې ټولنې ملاتړ د هغو سیاستوالو او ډلو په ګټه سوق کړي چې بدلون یې یوازې په تخنیکي ـ حقوقي اصلاحاتو پورې محدود وي، نه په عمل کې ژورو سیاسي، ټولنیزو، او اقتصادي بدلونونو پورې.

د همدې سیاسي مقدمې په اساس، د هېواد په تاریخ، بیا په ځانګړې توګه ۵۰ کلن ناورین کې د غیردولتي سازمانونو د ریښه‌موندنې هره هڅه راښیي چې دغو سازمانونو د افغان سیاست په دریېیو ستنو کې د استعماري اجنډا ریښه ځغلولې. دا درې ستنې، افغان ملي او سیاسي پروسې؛ دولتي بنسټونه او دولت‌جوړونه؛ او خپلواک او بومي سیاسي تفکر او ګوندونه دي.

**۱. سیاسي او ملي پروسې:** په دې برخه کې همدغه حاکم شوي انجویي فرهنګ وکولای شول چې ولسي مقاومتونه او سیاسي پروسې تخنیکي، پروژه‌محوره او ورځنیو رسنیزو بحثونو ته راښکته کړي. د غربي بلاک په ګټه د شوروي یرغل پر وړاندې د ولسي مقاومت او مبارزې د مصادرې په پروسه کې دغو سازمانونو د نرم‌قدرت او تبلیغاتي دستګاه په توګه خورا ټاکونکی رول لاره. د جګړې د تنور ګرم‌ساتلو لپاره په جهادي او افراطي روحیې افغان‌نسل روزنه د همدغو سازمانونو تر ټولو متمرکز کار ؤ. د جهاد لپاره د فرهنګي محتوا او فکري روایت‌جوړونې لپاره د قلموالو او تحصیل کړیو استخدام بله هغه چاره وه چې رهبري یې له دوی سره وه. ورپسې پخپله د بُن کنفرانس څخه نیولې تر دوحې ناستې پورې د دغو ټولو مدیریت او مسیردهي، او دغو پروسو عمومي روح ته د انجویي هویت ورکړه هغه څه ول چې د همدغو انجوګانو لخوا مساعد کېدلای شول.

**۲. دولتي بنسټونه او دولت‌جوړونه:** په دې برخه کې انجوګانو د شعارونو لاندې د دولت ترڅنګ موازي اداري جوړې کړې چې د هغو دولتي پروګرامونو پر وړاندې یې تضعیفي او تخریبي نقش لوباوه چې ټولنیز خدمات یې وړاندې کول. د دولت په اډانه کې د روغتیا، قضا، معارف او د ټولنیزو خدمتونو بنسټونه د زیاتو بهرنیو انجویي امکاناتو په سیالۍ کې بې‌ظرفیته وښودل شول، او مرکزي حکومت یې دغسې کمزورې وساته. د مدني او پرانیستې ټولنې انجوبازانو ته یې د دولت په بنسټونو کې د تداخل فرهنګ نهادنه کړ. د بېلګې په ډول، د ټاکنو کمېسیون، د بشر حقونو کمېسیون، د لوړپوړو چارواکیو د ګومارنې بورډونو، د سولې پروسې، طالبانو سره د دولت د مذاکراتو

پلاوي، او ان ډېرو حساسو برخو کې چې د هېواد د ملي امنیت مسأله پکې راتله، د مدني ټولنې استازو لپاره پکې د غړیتوب او سهم زمینې مساعدې شوې وې.

**۳. خپلواک او بومي سیاسي تفکر او گوندونه:** په دې برخه کې د افغانانو په مالکیت او رهبرۍ د مترقي او ملي سیاسي گوندونو او پروسو مخه ونیول شوه او پرځای یې انجویي فرهنگ عام شو.

په دې اړه جیمز فیرگوسن (James Ferguson) چې د (The anti - Politics Machine) کتاب لیکوال دی، استدلال کوي: «انجوگانې اکثراً ټولنیزې ستونزې غیر سیاسي کوي، یعنې مسایلو ته داسې تخنیکي بڼه ورکوي، چې باید د بهرنیو متخصصینو لخوا حل شي، پر ځای د دې چې د محلي ټولنو، سیاسي شخصیتونو او سیمه‌ییزو مشرتابه له لارې مدیریت شي.»

د همدې استدلال منطق ته په کتو، په افغانستان کې د پرانیستې او مدني ټولنې مفهوم چې د تحلیل له پلوه مغشوش و، خو د پانگه‌والو او استعماري ځواکونو سره یې د انجوگانو په مټ د افغان ټولنې د سیاسي انجنیرۍ زمینه اسانه کړه. سیاست د قانون جوړونې، گوند جوړونې او ولسي حساب ورکونې پر ځای د پروژو، کنفرانسونو او رسنیزو شعارونو مجموعه شوه. ملي پوښتنې — چې دولت څوک دی، د گوندیزې سیالۍ په مټ ترلاسه شوی اقتدار چاته حساب ورکوي، او ټولنه کوم لوري ته ځي — د جنډر په ورکشاپونو، د شخصیت‌سازۍ په نمایش‌نامو، سولې کمپاینونو او د بیان ازادۍ پروژو کې خلاصه شوې. ملي تعلق له خلکو او سیمې څخه بهرنیو تمویلونکیو ته واوښت؛ اقتدار او قدرت هغه وگړل شو چې پروژه یې تمویلولای شي، نه هغه ولس چې باید استازیتوب یې وشي. په تېرو شلو کلونو کې سره له‌دې چې اسلامي جمهوریت په تمثیلي لحاظ حقوقي او دموکراتیکه مشروع بڼه درلوده، خو ملي سوال یې پروژې؛ ملي تعلق یې بهرني تمویل او وابستگي، او سیاسي بهیر یې رسنیز نمایش ته راټیټ کړای شول.

په تېر جمهوریت کې له ولسمشرانو تر پارلمان پورې ډېری د انفرادي افرادو په توگه اقتدار ته راغلي وو؛ نه دا چې د یو سیاسي گوند دننه د سیاسي کارکن، کادر او په لویه کې د سیاسي تمرین له ترلاسه کولو وروسته د گوندیزې سیالۍ له‌لارې اقتدار ته راغلی وي. دې ته ورته په ریښتنې مانا سیاسي اپوزیسیون هم موجود نه و چې د حکومت جوړونکي گوند سیاسي برنامه

چلنج کړي، حساب‌ورکولو ته یې اړباسي او د هر راز سیاسي تشې او بحران په صورت کې بېرته همدا ګوندونه مالکیت واخلي او په تمریناتي لحاظ د مدیریت او رهبرۍ طبیعي ظرفیت ولري. ګوندونه دي چې بدیل فکرونه وړاندې کوي او نه یوازې د ټولنې اراده منعکسوي، بلکې لورى هم ورکوي. یو څوک چې له سیاسي پروسې پرته د بهرنیو پیسو په زور او د انجویي فرهنګ په ترڅ کې مطرح  او اقتدار ته ورسېږي؛ هغه بیا ولس ته وفادار نه وي، نظارت پرې ناممکن شي او د څوکۍ او اقتدار له بایللو سره سم له ټولنې ترى تم کېږي. برعکس، د سیاسي ګوند له لارې راغلى کس نه یوازې د یوې پروسې اوږدمهاله سیاسي او ولسي ریښه لري، بلکې په اقتدار کې د شخصي تمایلاتو پرځاى د هېواد د قوانینو په رعایت او د خپلې ګوندیزې برنامې او منشور په اساس موقف نیسي. د خپل عمل‌کرد په اړه د ولس ترڅنګ، ګوند ته هم حساب ورکونکى وي، او دې سره نه یوازې څار پرې اسانه کېږي، بلکې د یاد کس د بري او ناکامي مسؤلیت لوى سیاسي ګوند ته ورله غاړې وي.

## راتلونکی لیدلوری

دا مهال چې هېواد د طالبانو تر استبدادي واکمنۍ لاندې دى او د ملت او دولت ترمنځ اجتماعي قرارداد له‌منځه تللى، ولسي مشارکت د صفر درجې ته راښکته شوى، خلک د اعتراض حق نلري، اقتصادي امنیت له‌منځه تلونکى دى، بشري سرغړونې اوج ته رسېدلې، او د ښځو د زده‌کړو او په ټولنه کې د ونډې حق تر‌پښو لاندې شوى دى؛ نو په دغسې اختناق کې د غیردولتي سازمانونو نقش ته لا اړتیا پېښېږي او دا نهادونه د ټولنیزې-اقتصادي بقا لپاره د یوازېنۍ ستراتېژۍ په توګه مطرح کېږي. سربېره پردې، اوسنى استبدادي حاکمیت په تاریخي لحاظ د همدې انجویي فرهنګ د تداوم یوه بله کړۍ ده. همدا اوس ارقام او ځایي معلومات ښیي چې د دغو سازمانونو مرستې تر نیمایي زیاتې دوى ته رسېږي او پدې توګه ټولنه په هر لحاظ کمزروې، مصروفه ساتي او بالاخره دوى له اصلي مسؤلیت څخه چې د خلکو د روغتیا، صحت او تعلیم او خوراک دنده ده، خلاصوي او دا مسؤلیتونه یوازې انجوګانو پورې تړي. نو په دې اساس، د انجوګانو مخکنى څرخ چې د جمهوریت په وخت کې په انجویي فرهنک بدل شوى، اوس د هېواد

دننه او بهر لا په تشدید شوې بڼې څرخي.

د افغانستان اکثریت گوند د تاریخ په دې مقطع کې د ملي‌سوال په تناظر او د استعمارځنډنې د ملي ادبیاتو د تولید په پروسې کې دا خپل گوندي او ملي مسولیت گڼي چې د هېواد په مختلفو ولسي پرګنو کې دا او دې ته ورته مباحث راوپنځوي او په لویه کې د افغان‌ملت سیاسي ـ فکري روایت‌جوړونه، دولت‌جوړونه او ولسي دموکراتیکې پروسې د استعماري ادبیاتو له جال او اغېز څخه وباسي.

د همدې ملي او گوندي مکلفیت له‌مخې موږ په دوو جهتونو کې خپل وړاندیزونه شریکوو.

## الف: د فکري او سیاسي انسجام په موخه د استعماري ادبیاتو ځنډنه او خپل ملي ادبیات رامنځ ته کول

هغه اجرأت چې په دې برخه کې اړین دي:

- زموږ په ټولنه کې د استعمار د هرې بڼې رېښه‌موندنه لکه په دې رساله کې چې یې هڅه شوې، یوه حتمي چاره ده. په دې لړ کې انجویي‌محوره سیاست چې د استعمار ترټولو کارنده بڼه ده لا شاربل او په دې اړه د نویو او تنکیو ځوانانو ترمنځ فکري ویښتابه ته کار کول د هېواد ژغورنې او پرځان‌بسیاینې په برخه کې ټاکونکی رول لري. دغه ملي بحث د اکثریت گوند لخوا مخکې له مخکې پیل شوی او تمه لري چې نور پرمختگپال ملي او خپلواک گوندونه او جوړښتونه دغه بحث ته راودانگي.
- زده‌کوونکي، تحصیل‌کړي او په لویه کې نوی نسل دې د افغان تاریخ، د دولت‌جوړونې بومي تجربو، د استقلال‌طلبو مبارزو او مشرانو، او افغان‌نشنلیزم مطالعې او تحلیل ته وهڅول شي، او د دوی ترمنځ دې د مخامخ تماسونو، فکري بحثونو او مرکو، او خپلواک فورمونو جوړولو ته لومړیتوب ورکړل شي.

## ب: د سیاسي اقتدار د نظم په موخه د ملي او خپلواکو سیاسي گوندونو ایجاد او ملاتړ

هغه اجراأت چې په دې برخه کې اړین دي:

- د افغانستان سیاسي حالت په پام کې نیولو سره افغانان باید له هېواده بهر او دننه د سیاسي اقتدار د نظم د تعریف او ایجاد لپاره داسې ملي گوندونه جوړ کړي چې د بهرنیو هیوادونو د هر راز سیاسي، مالي او تسهیلاتي ملاتړ پر ځای پر داخلي سازماني انسجام او پر ولسي ملاتړ ولاړ وي.
- نوي ایجاد شوي گوندونه دې د گوند دننه د داخلي پروسو او گوندي دموکراسۍ په نهادنه کولو سره په منظم ډول خپل اساسي اسناد ملت سره شریک کړي. په دې لړ کې د لا روښتیا لپاره د قناعت وړ داسې اسناد وړاندې کړي چې لهمخې یې څرگند شي د دوی فعالیتونه د بهرنیو انجوگانو تر مالي او سیاسي اغیز لاندې نه دي.
- گوندونه دې پخپلو اسنادو کې په روښانه ډول د روان سیاسي ـ امنیتي وضعیت په اړه خپل دریځ، له دې وضعیته د خلاصون، د گذار پړاو او په ټولیزه توگه د راتلونکي سیاسي نظام، دولتجوړونې، اقتصاد، فرهنگ، ښوونیز نظام، بهرنۍ پالیسي او گڼشمېر نورو برخو کې خپل سیاستونه څرگند کړي. په دې اړوند د افغانستان اکثریت گوند مخکې له مخکې خپل اساسي او بنسټي لاسوندونه خپاره کړي، او له نورو د ورته اقدام غوښتونکی دی.
- گوندونه دې د ځوانتسل د سیاسي او گوندي روزنې مسولیت ومني، او دوی دې له انجویي فرهنگ، پروژهمحوره سیاستونو او د بهرنیو په مرسته له روان سلیبریټیزم څخه ولس او برنامهمحوره ملي سیاست ته سوق کړي.
- گوندونه دې په طبیعي او سیستماتیک ډول د مدني فعالانو، ټولنیزو رسنیو او نورو غیرسیاسي جوړښتونو څرگندونو او خپرونو په مقابل کې د ولسي او سیاسي غبرگون یو داسې میکانیزم رامنځته کړي چې د بهرنیو غیردولتي سازمانونو پټې اجنډاوې افشا کړای شي.

- د افغانستان اکثریت گوند، د هېواد ټولو گوندونو ته چې پورتنۍ ځانگړتیاوې ولري، پېشنهاد کوي چې د هېواد په اړه د «ملي اجنډا» د جوړولو لپاره پخپلو منځونو کې ملي ډیالوگ او جرگې ته لار پرانیزي؛ څو وکولای شي چې د هېواد اوسني وضعیت، له دې څخه د راوتلو، او د دولت‌جوړونې د څرنگوالي پر لویو ټکیو چې هماغه خپلواکي، پرمختگ‌پالنه او ملت‌پالنه ده، سلا شي او یو لوی پرگنیز سیاسي چتر رامنځ ته کړي.

پای

اکثریت

۱۴۰۵